کندهار

Kandahar. Kabul
Vol.3, No.11, Dalw 1341
(January 1963)



د کندهار د فیل کړه د بر بښنا سیټیشن

د دنیا بنایسته شیان

یوه نقاش څو کاله خواری وکښله تر څو ئې یوه قیمتی او خوږا بنایسته تابلو جوړه کړه، او کښ بیاهم د خپل ایجاد څخه راضی نه وو.

دی په دې بسې نه کړز پدی څو د ایری د یوه بنایسته شی تابلو جوړه کړی او ځکه د خپل مطلب د پلټلو په ترڅ کی د یوه دیندار سړی نه ورغی او هغه عقیدتی د بنایسته شی په باره کی وپوښتله.

هغه ورته وویل: چی په دنیا کی تر ایمان بنایسته شی بل نه سته.

نقاش بیا د خپلو پلټلو نه دوام ور کړ تر څو چی د یوه مېړه او ماینی سره مخامخ سو چی په نژدې وخت کی ئې واده سره کړی وو.

ده بیا هغه پوښتنه چی له دیندار سړی څخه ئې کړی وه له دوی څخه هم وکړه.

دوی په ځواب کی ورته وویل: «په دنیا کی تر هر څه بنایسته شیان مینه او محبت دی. ځکه عشق ناداری په ثروت نیاز، په رونښتا او غم په خوشالی بدلوی. په دنیا کی تر عشق بنایسته شی وجود نلری او ژوند بیله عشق څخه په هیڅ شی نه ارزی».

نقاش بیاهم پخپله ورکه بسې کړز پدی تر څو د یوه ستری جګړن سره مخامخ سو چی د سیند پر غاړه په فکر کی ډوب ناست وو.

نقاش له ده سره خبری اتری شروع کړی کله چی هغه ستری ار فکر جن ژوبلور د نقاش له مطلب څخه پوه سو نو ئې داسی ورته وویل: «سوله په ټوله دنیا کی خوږا بنایسته او جنګ خوږا بدشی دی. که سوله په نړۍ کی وی نو تاسی کولای سی چی بنایست په انتهائی ځلا او خوبی کی وویني».

نقاش سر کښته وځړاوه او د ځانه سره ئې وویل:

«ایمان، عشق او سوله. څرنګه کولای سم چی دا درې شیان په یوه تابلو کی مجسم کړم».

کله چی نقاش ستری ستومانه خپل کور ته راور سېدی سمدستی یو سو چی خپله ورکه ئې پیدا کړه د ځکه ده د خپلو کوچنیانو په بنایسته ستر ګو کی ایمان اوده خپلی ګرانی ماینی په تبسم کی ئې سپېڅلی مینه او د خپل کور په شاوخوا کی ئې سوله او ارامی ولیده له چی هغه جګړن ورته ویلی وو.

نو ځکه نقاش په دنیا کی د خوږا بنایسته شیانو د تابلو په کښلو بوخت شو.

کله چی د هغی تابلو کار پای ته ورسېدی نو د هغی تابلو نوم ئې «کور» کښېښود. [کلیوال]

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
29 MAR 2005
6 CONTINUATION 6

کندهار

میاشتنی خپرونه

ادبی . تاریخی . اجتماعی . علمی

مسئول چلوونکی:

ا،م «کرزی»

اداره: د شهیدانو واټ

د دولتی مطبعی څنګ ته

د ۱۳۴۱ لمریز کال د [دلو] میاشت

د ۱۹۶۳ میلادی کال د [فروری] میاشت

د دریم کال ۱۱ ګڼه

پرله‌پسې ګڼه [۳۵]

کالنی «بیه»

په کندهار کی [۲۸] افغانی

په دننه مملکت کی [۳۲] «

په دباندنیو هیوادو کی یوډالر

ددې ګڼې مضامین

دولسونو دبدلون عوامل	په [۱] مخ کی
ژبه او کلتور	« [۳] « «
دشعر پیدایښت او تطور په اروپا کی	« [۹] « «
ښاغلی لعل محمد «غریب»	« [۱۱] « «
[زه او د کلی خان]	« [۱٤] « «
وروستی تحول	« [۲۰] « «
البرت اینشتین	« [۲۵] « «
موریس میترلینګ	« [۲٦] « «
نثر	« [۲۸] « «

د ولسونو د بدلون عوامل

څرنګه چې د ژوندانه په لومړی حالت کې هری
کورنۍ ځانته جلا معیشت درلود او د طبیعی
حوادثو لکه زلزلې، سیلابونو څخه به ئې په خپل
انفرادی قوت ځانونه ساتل، نو ځکه طبیعی

پېښی پر انسانی ژوند غالبی وې وروسته تر
ډیرو پېړیو د انسانانو فکرته داخیال راغی چې
باید څو کورنۍ چې په یوه محیط کې نسبتاً
ورځرمه وی یوله بله راغونډی شی څو ښه وکړای

شی چې د خپل ژوندانه اړتیاوی رفع او د حوادثو
مقابله وکړی کله چې کورنۍ راټولی شوې نو
قبیله پیدا سوه، د قبیلې د بقا دپاره د وخت د
ضرورت په اساس ځینی قواعد په وجود راغلل

چې هغو قواعدو قبیله له تشتت څخه ساتله، کله
چې قبیلوی ژوند د همدغسی حیاتی ضرورتونو
په اساس په ولسی ژوند بدل سو نو دلته انسانان
مجبور شول چې ورو، ورو د خواهشاتو د مخ نیولو

او د خوارانو د ژوند د بقا دپاره ځینی حدود
وټاکی که سړی ښه ځیر شی نو دا به ثابته شی چې

د قوانینو واضعین په لومړی سر کی نادار او
کمزوری انسانان وه څرنګه چې دوی اکثریت

د جامعې تشکیلوی او اکثریت هیڅکله دا قلیت
ظلم تیری او استثمار نشی منلای نو په یوه لوی
قوت سره د جامعې ارادهٔ تمثیل سوه او قوانین

په وجود راغلل او د ژوندلار اولیکه ښکاره شوه
وظایفی بیلی سوې او د جامعې د ټولو خلکو دپاره
د فکری انکشاف زمینه مساعده شوه ځکه نو
د قانون احترام د ځان احترام دی او که موږ بیا

یو ژور نظر وکړو نو قانون به یوه اجتماعی حادثه
وبولو، نه د انسان فطری خواهش.
پخوانیو عالمانو د قانون موالید لکه: مدنیت
صنعت، دولت د انسان په طبیعت کی اخښلی شیونه

بلل ځکه نو انسان ته ئې د مدنی بالطبع خطاب
کړیدی او دی ئې طبعاً د بدویت دښمن بللی دی
لیکن د انسان سره نه بد او نه ښه خواهشات
ملګری دی او نه د مدنیت د مظاهرو شوقمن دی

هر څه چې د انسان د ژوندانه په سیر کی راغلی
دی هغه ټول د احتیاجاتو د ډېرېدو له کبله د انسانی
ژوند د بقا دپاره په عمل راغلی دی څرنګه چې په
لومړی سر کی انسانانو د خپلی ګیډی د مړولو

دپاره وښکار کولو ته مجبور وه نو ئې په ابتدائی
حالت کی پخپلو لاسو سره حیوانان نیول او

بېله دې چې پوخ ئې کړی او مه به ئې خوړل وروسته
تر دې کوم وخت ښائی یو سړی په ځنګل کی

تېرېدیء یو لرګی ئې لوېدلی ولیدی دا ئې د ځان
سره د ښکار کولو دپاره واخیستی، کله چې دا
آله د ښکار کولو دپاره خوښه سوه نو ورو، ورو

دې طريقې دهغه وخت په انسا-
نانو کې تعميم پيدا کړ بل وخت
بيا دښکار دنيولو دپاره ديوه
په لاس تېره کاڼي ورغي پدې

وسيله سره دي تر پخوا ډېر موفق
سو چې خپل ښکار ګوتو له
راولي نو دا فکر وده ته پيدا سو
چې بايد دښکار دپاره دغسي

تېرې وسلې جوړي او برابري
سي، بل وخت بيا پسله ډېرو
زمانو څخه دشپې په تياره کې
چې يو کاڼي ديوه دلاسه لوېدلي

او پر بل کاڼي موښتي دي نود
اور بڅر کې ځني غور ځېدلي
دي دې واقعې د اور د پيدا
کېدو دپاره زمينه مساعده

کړه او ورپسې د دوو کاڼو له
موښلو څخه اور په وجود راغي
څرنګه چې په نن عصر کې اتوم
راکټ او مصنوعي سپوږمۍ د

انسانانو د حيرت باعث
ګرزېدلي دي ممکنه ده چې

پخپله زمانه کې دي داور پيدا-
کېدل هم دغسي دانسانانو په

فکر کې تحير او تعجب ايجاد
کړي وي څرنګه چې اور د

ګټې اخيستلو وسيله ده نو ډېره
نژدې ده چې همدغه د منفعت

حس دي داور دپرستش سبب
ګرزېدلي وي چې ترنن ورځي

پوري هم ددې زړې عقيدې
خاوندان دنړۍ په ګوښو کې

ليدل کيږي . وروسته بيا د
هوا دسړېدو او دژمي درانګ

له اثره مجبور سول چې وتودو
ځايونو ته ولاړ سي په دې دوره

کې حيوانان هم اهلي سوي او د
انسانانو د استفادې دپاره

چمتو سوي وه دوي په دې مها-
جرتونو کې د نورو انسانانو

سره په لار کې مخامخ سول چې
دمادي منافعو دپاره ددوي او

هغو ترمنځ جنګونه وشول .
په لومړي سر کې به غالب قوم د

مغلوب قوم نارينه وژل او
ښځې به ئې دخپل خدمت او

چوپړ دپاره استخدامول ، کله
چې زراعت او کښت دهمدغسي

غير مترقبه لارو څخه په وجود
راغي نو بيائې دمغلوب نارينه

د کښت او کار په چارو کې اخته
کول چې دهمدې ځايه غلامي
په وجود راغله او د زراعت په
دوره کې به د مغلوب قوم

مځکې او جايدادونه هم دغالب
قوم په لاس کې لوېدله چې د
استعمار دوره ئې هم بايدو بولو
له دې ځاي څخه غلامي او

استثمار ريښه نيسي څرنګه
چې غلامي او استثمار په بشري
ژوند کې امتياز او ترجيح
راولي او امتيازات همېشه د

خوار وانسانانو د کرکې او تنفر
باعث ګرزي او همدا نه سي
زغملای چې دخپل کار او
زحمت محصول دنورو په جېبو

کې ووينې ځکه نو دې امتيا-
زاتو او استثمار بشري ټولنو ته
سخت تکانونه ورکړل او د
ډېري مودې دپاره خوراسخت

او خونړي جنګونه د خورانو
او استثمار طلبو ډلو ترمنځ

وشول چې ددې جنګونو نمونې
موږ د زاړه روم په آثارو کې

وينو وروسته تر دې جنګونو
او خونريزيو څخه مظلوم او

نادارہ انسانان سرہ راتول شول چې دخپل ژوند او مستقبل غم وخوری هغه ؤچې دا کثریت له لاری څخه د قانون په

جوړولو بریالی سول چې په هغه کې مساوات او عدالت د تولو بشری ډلو دپاره موجود ؤ خو افسوس چې دا قوانین او

ضوابط هم نړدې روخته پوری په نړۍ کې ونه چلېدل غلامی او استثمار بیا خپلې رېښې نړ شلمی بېړۍ پوری ټینګې کړی

خو بدې عصر کې د عقولو د وېښېدو او د انسانانو د بیدارۍ له اثره بیا د اقتصادی عدالت د قانون فکر

پیدا سو او ددې قوانینو په روڼا کې د دنیا د بیوې اوښې سیمې څخه د غلامۍ او استعمار هیولا خپل منحوس وزرونه

ټول کړل او ان ورځ د دنیا په هر کونټ کې د قوانینو بیوې

داسې مجموعې ته انسانان امیدواره دي چې د دوی دپاره

اقتصادی برابروالی او مالی امور تنظیم کړی .

لاندی مقاله ښاغلی نیکولای دووریانکوف لیکلې ده، پخواله دې چې د دې مقاله ولولو راځئ چې لومړی دی وپېژنو چې څوک او څه ئې کړیدی؟ دووریانکوف د شوروی اتحاد د علومو په اکاډیمۍ کې د اسیائی ملتونو په انستیټوت کې مطالعه او مصروفیت لری او وروکښې د ختیځو ژبو هنومشر او پروفیسر دی او په عین حال کې د افغان او شوروی د دوستۍ د تولنې معاون هم دی .

دووریانکوف د پښتو تولنې افتخاری غړی دی او دا افتخار ئې ځانته کټلی دی، ۲۱ کاله پخوا هغه وخت چې د وهم لوی جنګ توله نړۍ د تهدید لاندی راوستې وه په داسې سختو شېبو اوورځو کې ده د پښتو په زده کړه بیل و کړاوونو وخت بې طل کې ئې د ولس علمی آثار د پښتو ژبې او پښتو ادبیاتو په باره کې لیکلی او چاپ کړیدی او کومې مقالې چې ده په پښتو لیکلی دی ممکن هغه به اوستونکو د کابل مجلې او د زړې په صفحو کې لوستلی وی .

بله دې شپږورځو کې چې دووریانکوف کابل ته راغلی دی د ده د وینا له مخې د ده د پښتو شروع کولو د وهم شتم او د عمر ئې بوڅلو پښتم نلین پوره شو، موږ په همدې مناسبت د ده ته تبریک وایو او نوره ئې هم توجه دې خوا ته غواړو لاندی مقاله چې ده لیکلې ده موږ عیناً نشر کړه.

نیکولای دووریانکوف د پښتو تولنې افتخاری غړی

ژبه او کلتور

دژبې او کلتور مسئله د پښتو په باب لکه د نړۍ د نورو تو او ژبو په نسبت باید د نظر له دوو نقطو څخه وشېړل شي:

۱- د ولس د عمومی کلتوری ترقۍ له سوی سره د ژبې رابطه او تابعیت .

۲- د ولس او ملت د کلتور د مشخصو څانګو سره د ژبې د ساختمانی سیستم د ځینو برخو تماس او کډه اغیزه .

دا ښکاره خبره ده چې د پښتو ژبې کمال او پرمختګ به د هره ځکه او سنی انسانان پوهېدلی دی چې حقوقی مساوات بیله اقتصادی عدالت څخه په بوه جامعه کې امکان پذیره نه دی . ام . کرزی

اندازه سره د افغانستان د
عمومي کلتور سره پوره تعلق
لري او د ژبې مختلفې اوجلا
برخې يعنې تلفظي طرزونه

لغات او ادبي سبکونه د پښتو
ويونکو د کلتور او ژوند له
ټولو څانګو سره کلك مربوط
دي اما د ژبې او کلتور ترمنځ

رابطه برعکس خاصيت هم لري
او هغه دا چې [ژبه د ملي کلتور
تر ټولو مهم شکل او هنداره ده
او د ملي کلتور د ترقۍ اساس

هم ژبه ده] او په بل عبارت
[کلتور دا دي چې اجتماع او
ټولنه جوړوي او فکر کوي]
او ژبه ئې د فکر کولو طريق او

ترتيب دي مګر هغه دواړه يعنې
ژبه او کلتور د تاريخي جريان
په ترڅ کې ډېر او مشکل تغيير
پيدا کوي. خو دا د خپلې ترقي

په دورو کې ځينې لرغوني شيان
بايلي او د هغو پر ځای بېخي

نوي عناصر ځان ته ګټي .
د پښتو د کلتور او ژبې د پاره يو

کم بخته او بدتقدير منځ ته
راغلي دي چې د دغو د پاره خطر

له پخوانيو څخه موجود ؤ او
هغه [اسيميليشن] او از ميدان
بيرون کردن ؤ . خو بيا هم
د داسې ژبو لکه: ايرلاندي

(ايرليش)، يوناني، ارمنستاني
تاريخ او نورو ژبو مصيبتونه
ښئي چې دغو د ملي او قومي
روح احساساتو او د خپل مليت

پېژندنې او ستاينې او همدغه
رنګه د ملي او مورنۍ ژبې د
رسمي اعتبار او افتخار دفاع
د خپلواك کلتور او ژبې د

ساتنې او مترقي کولو د پاره
مهم رول لوبولي دي . په دې
باره کې د هغو اقداماتو د پاره
چې ملي او وطن پالونکو قواؤ

د پښتو د ساتنې او پرمختګ
د پاره اجرا کړي دي دلايل ډېر
اما اوس ئې دن کر موقع نه ده .
اوس زما په نظر کې يوه خبره

دويلو وړ ده چې څه نه څه چې
د دې د پاره لازم دي خو تر اوسه

پوري لا نه دي عملي شوي، بلکه
له هغو ټولو څخه چې اوس هم

عملي شوي دي څه نه څه لازم نه
ښکاري .

لومړي بايد دا خبره ومنو چې
د پښتو ټولي برخې له کلتور
ژوند او حقيقي تاريخ سره يو
ډول مستقيمه رابطه نه لري .

مثلاً ګرامرئي داسې رابطه
نه لري . وګورئ ! که د
مکور په لهجه وائي چې موږ
ولو، او په ننګرهار کې وائي

چې مونږ وو، دغه خبره دا معنی
نلري چې داسې فرق د کلتور
د ترقۍ له توپير سره تړلي دي
سره له هغه چې وائي چې د ملت

ژبه ئې هم حقيقي تاريخ دي
خو که په کندهار کې وائي چې
ښار ځنې او په لغمان کې وائي
چې له ښار نه دا خصوصيات د

هغو پښتنو قومونو، قبايلو او
خپلونو له اقتصادي او اجتماعي
تاريخ سره کومه مستقيمه او
ضروري رابطه بيخي نه لري

په دې صورت سره و به ليدلای
شو چې يوازې تلفظي طرزونه

او شرايط لغوي او سبکي
خصوصيات د پښتو ويونکو له

کلتور او ترقۍ سره مستقيمه
رابطه لري. او په دې ټولو څانګو

کښې منطقوي او قبيلوي لهجې
هم اوي تاثير لري مګر پدې
خبره نه يوازې درسم الخط
مسئله بريښي لکه چې ښاغلي

«جنتي» پخپله مقاله کې
وليکل چې د [زېري] د ورځ-
پاڼې په ٦٤٢ ګڼه کې خپره
شوېده .

راځيء چې د کلتور د لغت له
معنی څخه شروع وکړو .
ټولو شيانو او کاميابيو ته چې د
ټولنې د معارف، تعليم، پوهې او

علم، هنر او آرټ او د روحي
او معنوي ژوند په نورو ميدانو
کې موجود دي په ګډه او عمومي
ډول سره کلتور وائي .

ذذې د پاره چې پدې ټولو ډګرو
کې په وروستنيو کلو کې د پښتو
د استعمال او استفادې زيا-
تېدونکي پراخوالي او توسعه

وښيو هيڅ اوږده او مفصل دلايل
نه دي په کار ځکه چې دا بېخي

ښکاره خبره ده .
آيا پدې نسبت ټول ضروري

اقدامات عملي شويدي ؟
آيا د پښتو د استفادې او د

استعمال سويه پدې کلونو کې
د کلتور د پرمختګ له سطحې

سره پوره مطابقت لري او کنه ؟
د کابل د پوهنتون د سائنس

فاکولته تر نظر لاندې نه نيسم
مګر دا د بيانو په فاکولته کښې

ډېر کنفرانسونه او درسونه
په پښتو اورولي کيږي ؟

آيا په [پوهنې ننداري] کښې
په پښتو باندې ډرامې ښوولي

کيږي ؟ [او يا فقط تراوسه
پورې «تماشاهاي دانش» ورته

ويلاي شو ؟]
نوري ډېرې پوښتنې نه کوم

ځکه چې پخپله ورته جواب
ويلاي شم....

له معنی څخه د شکل پاته کېده
يو د ياليکتيکي قانون دي

مګر د اجتماع وظيفه ئې داده
چې هغو ته ضرور او لازم مطابقت

پيدا کړي شي .
دا د ژبې او کلتور د ګډو تعلقاتو

لومړۍ نقطه وه .
اوس نو د هغو امکاناتو سره سم

چې د مقالې چوکاټ ئې موږ ته
راکوي په لنډ ډول دوهمه
مسئله څېړو يعنې د ژبنيو برخو
او د ملي کلتور د مشخصو

خصوصياتو منطقي رابطه ګورو
دا خبره ډېره مشکله ده او
اسانه نه ده نو ځکه يوازې ئې
د حل کولو ځينې لارې ښيو .

تر ټولو لومړي د پښتو د ادبي
تلفظ پرفورم او سيستم بحث
کوو چې ژبپوهنه کښې هم
orphoepia ورته وائي

دلته پدې ورځو شپو کې او په
آينده کې هم د لهجو خصوصيات
اغيزه کوي .
آما پدې ځای کې هم د هيواد د

کلتور ترقي، د تلفظ له ترتيب
[او که رښتيا ووايو د تلفظ له
بې ترتيبۍ سره !] جنجالي
اختلافات پيدا کوي .

تلفظ پېژندنې او اوفوېپيا
[orphoepia] يو قديم

علم او پوهنه ده اولا په ډېرو
پخوانيو پېړيو کې له نطاق او

شاعر څخه غوښتل کېدل چې د
څوشلو کسو د مجلس په مخکې

د وینا یا شعر ویلو په ترڅ کی
دښه آواز او د قرائت او لوستلو
تاکلی شرائط او قواعد بشپړ او
پوره کاندی دادی اوس چی

علم، پوهه، تخنیك او کلتور
پخپله ترقۍ کښی دې سطحی ته
رسېدلی دی چی د راډیو په ذریعه
یو نطاق د لکونو کسانو

اورېدونکو سره خبری کوی
نو هیڅ څوك له هغه څخه هیڅ کله
د کابل په راډیو کی دغسی
قواعد او شرائط نه غواړی او

له دې سببه هر یو ئې خپل ځان ته
څیڅرون [Cicero] په
سترګه ګوری او خبری ئې
اسمانی غوندی څرګندیږی .

زه یوازی د هغو نطاقانو په باب
خبری کوم چی تل په راډیو کی
کار کوی او هلته شپه او ورځ
نطقونه لولی نو ځکه د سم او

ښه تلفظ د خپرولو او عمومی
کولو مسئولیت د دغو پر اوږو

پروت دی. دا یوه لویه ملی وظیفه
ده او هر څوك چی وی «پروا

نیست» ورته نشی ویلای. د دې
وظیفې د پوره کولو د پاره

مخصوص ترتیبات او ځینی
مشقونه ضرور او په کار دی

له دغو څخه باید شروع شی نور
نو ورپسې ښائی چی د پښتو

سبقونو او درسونو په وخت د
ښه او سم لفظ تمرینونه ترتیب

او بیا ولوستل شی البته د دې
د پاره لازمه ده چی د پښتو پوهان

او لیکوال دی د ادبی پښتو ښه
سم او روان تلفظ قواعد غوره او

راتول کړی. د ډیرو محاورو او
لهجو موجودیت د ادبی ژبی

د ترقۍ د پاره هیڅ موانع نه شی
پیدا کولای او نه ئې پیدا کوی.

د لغاتو په مسئله کی په پښتو
کی د خارجی داخل شوو

کلماتو استعمال لوی نزاکتونه
پیدا کوی .

د پوهانو یوه ډله ګڼی چی باید
په هره وسیله چی وی هر ډول

کوښښونه او زیار د دې د پاره
وکړی چی له پښتو څخه ټول

خارجی لغات او اصطلاحات
وباسی او وئې شړی او د هغو

پرځای پخپله د پښتو ارغونی
او هېر شوی لغات راوړی او
یا ئې په نویو اختراع شویو
کلماتو مبادله کړی او په دې

واسطه سره خپله ژبه له عربی
او اروپائی لغاتو څخه پاکه
کړی او یوه سپېڅلی پښتو تری
جوړه کړی د ملت او کلتور د

ترقۍ د پاره داسی ډول مترقی
نهضت قانونی بلل کېدای شی
او ځانته تاریخی او اجتماعی
سبب لری چی [Purism]

نومیږی البته د خپل محدودیت
او اختلافاتو له کبله په ځینو
ځایو کی په ارتجاعی افکارو
اخته کېدی شی .

د پوهانو بله ډله هم شته چی دا
عقیده او یقین لری چی ښائی
څومره چی کېدای شی د پښتو
د پاره خارجی لغات واخلو او د

هغو په مرسته خپله ملی ژبه
مترقی او غنی کړو، په حقیقت

کی ځینی خارجی لغات پښتو
متموله کوی مګر په دې کی

باید له تاکلو حدودو څخه
ونه وځو .

یوه بله ډله هم شته چې پدې مسئله کې د [عمومي انارشیزم] طرفداران ورته ویلای شو. دوی ګمان کوي چې ددې مسئلې د

حل کولو حق ښائي چې د واقعاتو دجریان اختیار ته وسپارل شي او یو ځل بیا دې ته «پروانیست» رویل شي.

له دې ډلو څخه کومه یوه رښتیا وائي ؟

ټول صحیح دي او هم ټول غلط دي.

دا مسئله باید په دیالیکتیکي ډول حل شي.

پښتو باید هرومرو پاکه شي مګر دا دڅه دپاره لازمه ده چې

مثلاً د [تاریخ] کلمه د [نېټه لیك] په ترکیب تبدیل کړو او یا د [سیاست] دلغت په ځای [چارلیدنه] یا کومه بله کلمه

اختراع کړو؟ له بلې خوا څخه که یوه ډېره ښه او روانه پښتو

کلمه لکه موټروان [سره له هغه چې خالصه نه ده] لرو نو

ولې ئې ځینې کسان په پښتو کې [درایور] وائي.

د [انارشیزم] طرفداران د نظر له یوې نقطې څخه صحیح

دي البته پوهان او لیکوال باید دژبې د ترقۍ جریانات

وګوري او اساسي او اصلي قوانین ئې وپلټي. دوی نه ښائي

چې دچرت په تال ناست او یا په خیالي دنیا کې ژبني اختراعات

وکړي. بلکه په حقیقي او عادي ژوند کې خپلې پلټنې وکړي

او په تېرو او معاصرو زمانو کې ټول چې ولس جوړ کړیدي او

اوس ئې هم جوړوي غوره او انتخاب کړي. اما پدې کې د

ژبې د ترقۍ کنترول او اداره ده او کوم [انارشیزم] نشته.

د پښتو د سبك پېژندنې په باره کې هم باید یو څه کلمې ووایو

زما په نظر کې هغه فوري او ضروري اقدامات غواړي.

ترټولو دمخه باید د سبك د لفظ صحیحه او رشتینۍ معنی

وڅېړو، تر اوسه پورې له یوې خوا څخه سبك ادبي، نظمي

طرز ته وائي مثلاً: خراساني سبك، عراقي سبك، هندي سبك او داسې نور او له بلې خوا څخه داسې الفاظ موجود دي لکه:

کلاسیکي سبك، د سنتیمنتالیزم سبك، د روماتیزم سبك، د دریالیزم سبك، نوي سبك او نور مګر که ددې لفظ لومړۍ

معنی دادبي نظم طرز وي نو بله معنی ئې په ادبیاتو او هنر کښې خلاقتي نهضتونه او همدغه رنګه ادبي او هنري میتودونه

او وسایل دي.

په حقیقت کښې اوس د عمومي ژبپوهنې د نظر له نقطې څخه مونږ باید سبك د اجتماعي

وظایفو دپاره د عمومي ملي ژبې د استعمال ترتیب او طریق وبولو او دا سبکونه باید په اجتماعي ژوندون کښې دخپل

رول او اهمیت سره سم تقسیم او وېشل کېدای شي.

د ټولنې د ترقۍ د عمومي ضرورتو او احتیاجاتو سره سم د انسانانو

د کار په مختلفو څانګو کښې د ژبې د استعمال او استفادې

لازم ترتیبونه اوطریقې چوری او قـایمی کېږی لـکه : د معاصر نظم ادبی سبك، دمعاصر نثر ادبی سبك، دمعاصر ژورنـالېزم ادبی سبك او داسی نور . اوس هم هرچانه ښکاره معلومه ده چی مثلاً سرمقاله اوراديوئی درامه هره یوه ځان نه بـاید خپل مخصوص سبك ولری . پرنه له داسی عمومی ادبی او احتیاجـی سبـکونو څخه ښائی چی یو شمېر داخلی او طرزی سبـکونه هـم جوړ شی مثلاً دژورنالېزم یه عمومی ادبی سبك کښی دی دسرمقالو سبك د خبرو اوسبك دسیاسی بحثونو سبك او نورهم ومنل شی.

البته هر لیـکونـکی به یه ډې سبـکونو کښی یـو څه خپل شخصی انفرادی اونوی خصوصیات ننه باسی مگر یه خپلو عمومی خاصیتونو کښی یه هغه سبـکونه خپل شباهت اوگډ عمومیت یه ژوند او استعمال کښی وساتلی شی او یـه ډې ډول سره یه د ادبی ژبی قوت اوقدرت مترقی او ډېرشی.

که رشتیا درته ووایم نواوس هیڅوك ښتو نه وروستـه پاته او یا خواره ژبه نه شی ویلای غریبی ئی شاعرانه او بیوزلیتوب ئی سیاسی معنی لری . اما له ډیرو نورو ژبو سره ئی لومړنی فرق دادی چی یه ښتو کښی هم بی ترتیبه شته اود ژبی د استعمال لازم دیسیپلین نشته، یه هغه کښی هم د ژبی خیالی آزادی شته او پـوره حقیقی آزادی لاتراوسه هـم نشته آیا له دې جهته هم ښتو د ملی کلتور خصوصیات نه منعکس کوی ؟.

ممکنه ده چی پرځینو مسایلو باندی زمـا شخصی نظرئی انفرادی او غلطی وی . یه دې موقع کښی به هم بحث ته دوام ور کړو .

اوس نو ستاسی دتوجه اودقت څخه ډېـر تشکر کوم .

یه احترام

دزړی له اخبار څخه اخیستنه

«دفکر پلوشې»

دغه نور، نور نـکی چی د کتاب دیانو پرمخ باندی تیت او پرك شو یدی دانسانی فکروهیندارو دهچی یه ملیونو خلك دهغه له ویلو څخه کټه اخلی [بترارك] هره ورځ چی ټپر پېژی، یو، یو پل وقبر ته نژدې کېږو . [....]

.....

څوك چی له علم او معرفت سره سراو کار، نه لری له لذت څخه ئې بې خبره دی. [....]

آه! کشکی یو هېدای چی څه رنگه ژوندو کړم . یا څوك می پیدا کړی وای چی د ژونـد مطالعې او ورزش لاری ئې را ښوولی وای. [نشو دور یار کړ]

.....

بې کتاب اطـاق د بې روحه بدن یه شان دی . [سیسرون]

د [زبدة الصحائف] له عربي کتابه څخه:

د ښاغلي «نجيب» ترجمه

د شعر پيدايښت او تطور په اروپا کې

وايي چې په هند کې يوه ډله
وګړي وه چې غير له شعر ويلو
څخه ئې بله دنده نه درلوده تل
به ئې د پيسو په اميد سره د

خلګو مدحي او ښځايه توصيفونه
کوله دا ډله د [سشارون] په
نامه سره يا د ډله بيا دې دندې
ويوې بلې طايفې ته چې [بهات]

نومېدله انتقال پيدا کړ د
قديمو اساطيرو په استناد سره
ويلاى شو چې دغو طائفو ځينې
مذهبي نشيدې د شهرت د زيانوالي

په غرض سره يا دولې که ښه
ځير شو شعر يو فطرتي او ملکوتي
الهام دي چې د مقدسو کتابو
منظوم والي ئې د ثبوت قوي

دليل بلل کېږي او پدې کې
دا حکمت مضمر دي چې شعري

موعظې نسبت ونثري موعظو ته
ژر اثر اچونکي دي پرته له
دې که موږ وغواړو چې د يوه

قوم و روحي تمايلاتو ته وارد
شو نو بايد تر هر څه لومړي د
دوي شعري اثرونه او ادبي
توتې سره ويلتو ولې چې دهر

اقليم د آب وهوا تاثير و شعري
ملکې ته بېل بېل رنګ ور کوي
دايماً د تاوده ملك د خلګو
اشعار د عافيت پسندي روح

لري او د ساړه ملك خلګ بيا
حماسي او احساسات پاڅونکي
اشعار خوښوي ادبي مدققين
وايي د شعر تعميم لومړي وار

په يونان کې [هيستودو] نومي
وکړ دې شاعر د قبل الميلاد
په لسمه پېړۍ کې ژوند کاوه
مګر حال دا چې د قبل الميلاد

په نهمه پېړۍ کې د اوميرس
شعري پارچو ډېر شهرت او

مقبوليت درلودي چې مطالب
ئې د عباسي خلفاؤ په زمانه کې
له يوناني ژبې څخه په عربي

ژبه ترجمه شوه دا شاعر سره
له ړاندتوبه خورا مقتدر شاعرؤ
چې قصيدې ئې د عام مقبوليت
له حيثه څخه د مقدوني سکندر

په عصر کې غونډې شوي د
سولون په عصر کې [طسيس]
نومي ځينې العابيه قصيدې
وليکلې د ميلاد په لومړي پېړۍ

کې يو شاعر د [هنر] په نامه
سره پيدا شو چې ځينې زراعتي
پارچې ئې نظم کړي پسله دې
څخه بيا ځينې نورو شاعرانو

لکه: ويندار، سميد، انقريون
په قصيدې ليکلو کې نبوغ
پيدا کړ.
هغه سړي چې په روم کې ئې

شعري نبوغ درلودي [ارجيل]
نومېدي دا شاعر د قبل الميلاد

په ۷۰ پېړۍ کې د منتو په ښاز
کې زېږېدلي او بيا ئې د تحصيل
په غرض سره د شاوخوا ونورو

ښاروته سفر کړی دی کله چی
دروم په ښار کی له [اوغسطوس]
نومی قیصر سره مخامخ شو د
هغه په حضور کی د غرا قصیدو

عرضولو په نتیجه کی دیوه لوړ
مقام څښتن شو دمرګ نېټه ئې
۱۹م میلادی پېړۍ ګڼی د
دومتیانوس نومی امپراطور

په عصر کی استاسن نومی شاعر
په شعری ډاګ کی پل
کښېښووی چی په ټولو قصیدو
کی ئې د برنیوس قصیده ډېر

شهرت لری په سلمه میلادی
پېړۍ کی مړ شو وایی دمسیحی
دیانت په راتلو او خپرېدو
سره ډېر نور نابغه شاعران و

میدان ته راغلی دی چی مشهوره
ئې دادی لکه: اوزان، برودنس
بولین، دونوله، فلودیا-
نوس، سریانوس، ابولنیاریوس

فرتونات او نور په دغو نوموړو
شاعرانو کی غیر له فلوریانوس

څخه نور ټوله د بت پرستی د
عقیدې مخالف وه.

بسله دې مودې څخه د روم
امپراطوریت پر ختیځو او

او ېدیځو سیمو باندی وېشل
شوی او د شعری مسابقو بازار

تو د شویدی د دې وخت د شاعرانو
قصیدې اکثره مدحیه وی
مګر په یونانی شاعرانو کی
هجو په قصیدو ډېر رواج درلودی

بعضی مؤرخین وایی لکه
څنګه چی د مسیحی دین په اثر
سره د بت پرستۍ قواعد منهدم
شوه همدغه شانته ادبی علومو

انحطاط پیدا کړ او د شعرو
شاعری بازار سوړ شو او دینی
مشاجرو رواج پیدا کړ همدغه
وخت ؤ چی فرغوریوس نومی

شاعر و خپلو اشعارو ته دینی
رنګ ورکړ.

د بوستنیانوس نومی قیصر په
عصر کی مکدونیوس نومی
شاعر ډېر مشهور ؤ چی تل به ئې
د نورو شاعرانو شعرونه یادوله

او تفسیروله کله چی د اروپا
وګړی د ادبی او فلسفی علومو
له تحصیله څخه فارغ شوه نو
پدې حین کی صلیبی جنګونه

ونښتله او اروپایان له شرقی
ادبه سره لږ و ډېر اشنا شوه په

فرانسه کی د برونسی د ښار
وګړی په هسپانیه کی د کتا-

لونیا د ښار وګړی او په نیمسا
کی د سوالی د ښار وګړی په
ادبی علومو کی ډېر پرمخ تللی
وه مګر سره له دې هم د هغه

وخت د وګړو په دماغو کی
دا مفکوره راسخه وه چی د
شعر ملکه په ایټالیا کی متمکنه
ده د میلاد په شپاړسمه پېړۍ

کی د ایټالوی ژبی اریوستو
او طالو نومو شاعرانو په شعر
ویلو کی طوفانی وکړی په
هسپانیه کی به شاعرانو په شعر

ویلو کی د خلګو د ذوقو ډېر
مراعات کاوه د دوی شعری

قصیدې به یا د جنګ پر واقعاتو
بناوی او یا به ئې موضوع د
سحر جادو بې حقیقته قصې وی
د مقدسو کتابو مطالب به هم

د شاعرانو له طرفه څخه په
نظم سره لیکل کېدله بسله
میلاده څخه په شپاړسم قرن
کی لویس وفیقا او کالدرون

نومی شاعران پیدا شوه چی
«نور په ۱۳ مخ کی»

(ویران)

ښاغلی لعل محمد «غریب»

ښاغلی لعل محمد [غریب] د حاجی داد محمد زوی
دحاجی احمدخان لمسی او دحاجی عبدل کړوسی
په خټه لودین د کندهار دښار په دوهمه ناحیه کی
په ۱۲۹۱ش کال زېږېدلی دی .

په ۱۳۰۲ش کال کی د کندهار دښار په لومړنی
ښوونځی کی چی په هغه وخت کی ئې [د گنج
مکتب] باله شامل او تر پنځمی تولگۍ پوری ئې
لوست کړیدی کله چی په افغانستان کی سقوی

اړؤدوړ بېښ شوڅرنگه چی دمملکت ډېر کارونه
معطل یا له پرمختگ څخه پاته سول دغسی د
ښوونځیو دروازې هم وتړل سوې خو ښاغلی غریب
وائی چی: ما خپل درس ته دوام ورکړاو له خصوصی

استادانو څخه می تحصیل وکی صرف، نحو، منطق
تفاسیر، احادیث، فقه، اخلاق او عقائد می
ولوستل چی دا دسبق او زده کړی سلسله می تر
۱۳۱٤ کال پوری ورسېدل .

په دغه کال کی د کندهار د شالمار په ښوونځی
کی (چی او سنی مشرقی ښوونځی) دی د ښوونکی
په توگه مقرر سوم . د ۱۳۱٤ کال تر آخره پوری
دا وظیفه را د غاړی وه، کله چی د ۱۳۱۵ کال

په پای کی ځینی ښوونکی د تدریس د اصول د
زده کړی دپاره د کابل دارالمعلمین ته ولېږل
سول دهغو ښوونکو په تل کی زه هم ولاړم . د
۱۳۱٦ کال په پای کی بېرته کندهار ته راغلم

او د همدغه شالمار په ښوونځی کی بیا ښوونکی
مقرر سوم . په ۱۳۱۷ش کال د احمدشاهی ښوونځی
سر ښوونکی مقرر سوم، په دې ترڅ کی
برسېره پردې وظیفه دهغی علاقې په وجه چی د

پښتو سره ئې لرم، د ۱۳۸۱ کال په لومړی سر کی
می د کندهار د ولایت د ټولو رسمی دائرو
مامورینو ته د پښتو لوست کاوه چی پدې کی د
عسکری فرقې صاحب منصبان هم شامل وه دا د

پښتو درس څلور کاله، او د سر معلمی وظیفې تر ۱۳۲۵ ش کال پوری دوام و کی.

په ۱۳۲۵ کال د کندهار کی د پوهنی د ریاست د مفتش په صفت مقرر سوم چی دا وظیفه تر ۱۳۲۹ کال پوری را دغاړی وه. بدغه کال د میرویس بابا دلیسې د سر ښوونکی په حیث تبدیل او تر ۱۳۳٤ کال پوری ئې چی معلمی هم ورسره وه ودې کار نه می اوزه ور کړی وه، د ۱۳۳٤ کال په پای کی د پوهنی د وزارت په خوښه ومطبوعاتو ته راغلم او مړی د کرشك د [نیمروز] د جریدې د مسئول مدیر په صفت چی اوس د [هلمند] په نامه اوښتې دی مقرر سوم کله چی د جریدې او مطبوعاتو مدیریتو نه سره یو ځای شول نو د کرشك د مطبوعاتو د مرستیال په توګه می په کار پیل و کړ چی تر ۱۳۳۷ کال پوری هوري وم. بدغه کال د کندهار د دولتی مطبعې په مدیریت را تبدیل سوم چی اوس هم دلته مصروف یم.

نور نو ښاغلی غریب پر مسلمانی ټینګ او له بدو څخه بېزاره سړی دی.

د خلکو سره ښه رویه او ښه سلوك ئې ډېر و کړی ستائی، لکه د دوی د تخلص څخه چی څرګندیږی غریبانه ژوند ئې خوښ دی علاوه تر خپل کفاف د نورو خبرو سره علاقه نه سانی. یدې کار اوس هم خوښ دی چی شاګرانو اری او ښوونکی وی، کوم د فارغت وخت چی ورمیسره سی د یوه کتاب په کتلو ئې تېروی.

د ښاغلی غریب اثار او اشعار د کندهار، هلمند او په ځینو نورو جرائدو کی خپاره سوی دی.

ځینی کټور موضوعات او رسالې ئې هم ترجمه کړی دی چی [فکر] [علم النفس ته یوه کتنه] [جوهر او عرض] [عصبی نظام] [د عروضو علم] [د منطق ځینی اصطلاحات] [علت و معلول] ئې عنوانونه دی او دا اثار ئې شل کاله پخوا په طلوع افغان کی هم خپاره سوی دی. دوی د خپلو اشعارو مجموعه اوس د یوه دیوان په شکل سره راټوله کړېده. خو جلا چاپ سوی نه ده دائې د کلام نمونې دی:

اوریځ

زه دسپند، هو کې هغه لوی سپند راوړې یمه چی پر ټوله نړۍ راچاپېر سوی دی او د رحمت نوم پر یاد یږی.

کائنات زما سره مینه لری او د لویه خدایه می به دعا ؤ غواړی.

د فیاضۍ غوره نمونه او د نثارۍ لومړی ښوونکی یمه.

یا سخاوت کی می ساری نه سی موندلای.

د شاعرانو، فاضلانو د مجلس مالکه او د دوی د خولو ورد یمه.

نك سپین رنګ لکه: شیدې اوروڼ، خوا پاکی بې غشه زړه څښتن را کړی دی.

له اوښکو جوړه سوې یمه.

لوی څښتن سلیمانی غونډی تخت را کړی دی.

چې تل په هوا ګرزمه او د مهربانۍ مور په څېر
پر کائناتو کړېږمه .

سیوری پر کومه .

پرزهیرو زړو، نړېدلو هدیرو، وچو دښتو، تودې

تودې اوښکې تویومه او په خپلو اوښکو ئې تپې
زړونه ورمینځمه او دواوری پنبه پر پټۍ کومه.

زما تتر له سپینو مرغلرو څخه ډک دی چې هره یوه
ئې په یوه سره بتکۍ ارزی .

هر کله چې د تنکی ګلونو ژېړی او وچې شونډی
لغړی ونی، د بېوزلو اسکېرلو او مومنانو وازی

خولې ووینمه .....

نو د زړه له جوشه می تر خوله سرې، سرې لمبې

ووزی، ځان تکو هم او دغه مرغلری پر توی کم
لمنی ئې ورډ کی کم، خپل زړه په سوړ کمه او
کټ، کټ ورته وخاندمه او تر تېره سمه .

له خناسه واخله لاس

که دی زړه سو په وسواس
دا وسواس دی د خناس
له خناسه لیری ګرزه
من الجنة و الناس
له خناسه په نفرت شه
چې دده دیء بد اساس
که دی عقل دی په سر کی
له خناسه واخله لاس

دی په تا باندی چیښی
په فریب د زهرو تاس
راسه ګوره مغرور مشه
د خناس په التماس
که عاقل ئې غلط نه شې
د خناس په کوز ؤ پاس
د «غریب» دغه ویل دی
د خناس دی بد اساس

«د شعر پیدا ښت او...» دلسم مخ پاته برخه

ځینی نشیدی ئې د اخلاقی
تهذیب په ملحوظ سره ولیکلې.
په ډنمارک کی هم په دغه وخت
کی مقتدرو شاعرانو وجود

درلودی وایی ښځو او نرانو
به ئې په ګډه سره دژمی په شپو
کی له ساز سره ځینی ادبی
پارچې ویلې په سلاو، روم او
صقالیه کی بیا پرته له نارینه ؤ
څخه ښځو هم د خپل کور

امور په نظم سره لیکله
بطرس قیصر هم له شعرو شاعری
سره ډېره مینه درلوده ددې
قیصر خور یوه تیاتری قصه نظم

کړې وه چې د شکسپیر له
نظمو سره ئې تام مشابهت
درلودی .
انګلیسی شکسپیر هم یو له
لویو شاعرانو څخه ؤ چې پسله
ده څخه درایدن او بوب نومی

شاعران و میدان ته راوونله .
په دې وخت کی په فرانسه کی

او کتاویان شاعر داومیروس
شاعر قصیدې په فرانسوی ژبه
سره نظم کړی ویلون شاعر هم
د موضوع حکایتو په لیکلو

کی لری لاس درلودی د
څورلسم لوئی په دربار کی
بیا رابین، او کومر نومی
شاعران د رسوخ او اعتبار
لرونکی وه .

دادب گلونه

ښاغلی «زمریالی»

زه
اودکلی خان

یوه ورځ وه دروازه چا ټکوله
لکه داچی دروازه ئې ماتوله
په ډېر زور او سمدلا سې خرپوله
یاچی سرای نه ئې نخره راجوړوله
ماهلك نه وې ژر ورسه په تلوار
چی دا څه دی ناتار

هلك ورغی په ځغاسته و بهرته
په دې خیال چی ناري کړم و نو کرته
ماور تاخت کړه ځان می ورساوه سپرته
چی ځانونه کړو تیار ناڅاپی شرته
هلك راغی ږغ ئې وکړ چی کرار
راغلی خان رویدار

ما سپر وغور ځاوه وونم دباندی
زه حیران سوم چی داولی داسی کاندی
چی ولاړ دی خان دکلی وایی ساندی
کم یوغم دی که دنیا سوه لاندی باندی
ماوې څه وائی په څه تارو نار
تاویږی لکه مار

خان وې زوی می ئې مکتب ته دی بېولی
په مدیر دمعارف ئې ته منلی
ننوانی یم اوس تا لره راغلی
په مرګ خوښ یم خو داغم نه سم ګاللی
زوی می ځنی خلاص کړه ډېر یمه ناچار
ملك دی خبر دار

زه د کلي خان یم مځکه مې ده ډېره
هم باغونه او دنیا ده ترحد تېره
باغوانان او بزګران مې دی بې شمېره
مکتب څه کوم پردې ژوندون برسېره

پلار نیکه مې تللی نه وو پردې لار
زه نه غواړم دا کار

په مکتب کې خو تاریخ جغرافیه ده
چې ئې لولی مساحت او هندسه ده
نه مشهوره کتابونه، نه منیه ده
نه ایداغ د پنج کتاب او نه تحفه ده

د مکتب او مکتبي څخه یم بېزار
خوار یم زمیندار

ماوې خانه! زه حیران یم ستا ګفتار ته
ډېر افسوس دی ستا وینا او ستا افکار ته
ستا خبرې توله ورته دی بادسار ته
پردې ګای دی حیرانی ده وهوښیار ته

خپل پردی به په ژړاسی په کوکار
چې واروی ستا ګفتار

که د خدای او د رسول په قول خبر وای
نه د جهل پر خره به سپور نه به ابتر وای
لکه نور عالم به ستا علم رهبر وای
نه د دین نه د دنیا به بېخبر وای

هر یې نه یې ځانته مه نیسه بادار
وطن ته بزه ګار

نه دی چرت سته د وطن او نه د کور هم
نه پوهېږې چې وطن دی لکه مور هم
دغران پر ځای دی نسته پېټ بېغور هم
دیتیم څخه کمیس کاږی په زور هم

نه دی ور کړه نه پالنه سته د خوار
وهې ئې په متار

نه دی زوی لېږې مکتب ته نه ملا ته
ناوزلی دی لوی کړی دی وغلا ته
په کوڅه کې وی ولاړ وائی هرچا ته
مور او خور دی داسی کړم وایم وتا ته

چې ته مړسې دی کوی چرس او قمار
جایداد کړی تار په تار

زوی دی ورک تر نیمو شپو وی په کوڅو کې
یا کچې کړی د ځوانانو په کوټو کې
یا دی ګرزی د چرسیانو په تکیو کې
ته نو ګډئې د دې زوی په صفتو کې

دیندار نه ئې ځانته تراشې اعتبار
چې ټول کړی څه مردار

چې دی ځوان سی کرک باز:... سی
یا.... کوی مین په سروزاو ساز سی
هم سر بېره پر دغو دی قمار باز سی
په آخر کی چې لچك سی دو په باز سی
دوطن او دملت وی په اضرار
لوی غل سی داړه مار

خان ویل چې په مکتب کی بې دینی ده
هم اغوستی دوی خولی او دریشی ده
موږ ته ښه دخپل نیکه مسلمانی ده
هم سودمنه موخواری او بزګری ده
نه مکتب غواړم نه دا چې سم کار دار
که سرمی سی په دار

د مکتب کارونه واړه شیطانی دی
کم کارونې پر دین سم یا کتابی دی؟
بلکه وایم چې دا ټوله دنیائی دی
نه ئې ږیره نه پرتوګ نه نسواری دی
لنډ بر ېتو نه دوی څکوی سګرټ سیګار
امان د کردګار

ماوې خانه ته غوږ کښېږده زما بیان ته
اوس به ووزو درموزه لږ عیان ته
ګوندی پوه سې لږ څه وګورې جهان ته
یا دجهل نه مخ راستون کړې و قرآن ته
څنګه ته کړې داسی نکړی هیڅ هوښیار
داولاد سه ته غمخوار

د مکتب د بې دینی دی چا ویلی؟
که په خپلو ستر ګوتا دی دوی لیدنی؟
په مکتب کی خو د دین ګلان کرلې
چې مسلم ته بې دین وایی دی رټلی
په خولی باندی څوك نه سی ګناهګار
ملت دی کی دا عذار

دا کالی چې موږ اغوستی د سپین سان دی
یا تړلی مو بګړی لکه کډوان دی
پرتوګو نه مو چې ځوړند په دې شان دی
نه جامې د پیغمبر نې د زمان دی
نه خوسته په دریشی د دین څه دار
نه به دین وی په دستار

په کالو کی خو مطلب ستر عورت دی — معتبر د زمانې دود او خصلت دی
په رقم کی ئې حدیث نه کم آیت دی — نه کیبی پر نوک واجب او نه سنت دی

نه دی منع دریشی خولۍ شلوار
هرچا نه دی اختیار

په مکتب کی لمړی شرط د دین او ستل دی — پس له هغه بیا د نور علوم کتل دی
د تاریخ جغرافیې که څه ویل دی — زموږ په دین کی ئې روا ښه زده کول دی

اصحابان د دې علومو طلبګار
تل دوی وو پسې زیار

دا سلام په لومړی سر کی مدرسې وې — هم او ستل د مساحت هم هندسې وې
هم تاریخ جغرافیه هم فلسفې وې — هم حکمت او هم نجوم نورې قصې وې

دا ویل دی د دښمن لعین غدار
چی نه شی کمالدار

دا علوم خو را ایستلی عربانو — پسې تللی هم زده کړی اصحابانو
دا علوم خو دانائی ده ای خانانو — خلك ولاړ تاسی پاته بې بختانو

ناپوهی مو بربادی ده خبردار
ځانونه کړیء بېدار

خپله ږیره که خرئی څوك خو ګناه ده — کې روا بولی خو دائې لاخطا ده
مګر دونه رواج سوې برملا ده — چی شپنیانو هم خریلې په صحرا ده

په مکتب پوازی مه ږده نه دا بار
هر څوك په ګرفتار

هر حاکم چی یوه په دین او خپل ایمان دی — د رشوت او نارواڅخه په امان دی
هم په مینه د وطن او باوجدان دی — په خدمت کی د ملت تل سرګردان دی

نه رشوت اخلی نه کړی د چا آزار
دورور وی غمګسار

که رشوت اخلی خاین د ملك ملت دی — هم بېعلمه او جاهل هم په لعنت دی
هم ګناه ده زما اوستا هم مو علت دی — چی ورو ړانه ی کړو سوغات بیا نو رشوت دی

که موږ ور نکړو وده ته بډی زار
دوی نه غواړی دینار

په تبر کی که یو بد سی یا بې دینه
ټول تبر هغسی هیڅوك نه شمېرینه
په مکتب کی رشوت نسته زما شیرینه
دا کارونه جاهلان دی چی ئې کړینه

مکتبی ته خیانت دی مرګ تیار
ګڼی ئې ځانته عار

لنډه داچی تاته وایم اې خانه!
دا خبری د دښمن دی واوره مانه
د مکتب غیبت کوی تاته بې شانه
چی جاهل اوسی دی ګټه وکړی تانه

که عالم سی کش به نکړی ستا مهار
په ځان به سې یو وار

د مکتب او مدرسې خو یو مطلب دی
هم په اصل او لغت کی د عرب دی
ځای د اوستو د لیکلو د ادب دی
د جاهلو د نابوه د پوه سبب دی

تا ته ولی بد ښکاریږی علم الدار
ته مکړه ترې انکار

علم پوه ده بل شی نه دی ځان خبر کړه
که دین ساتې پر دنیا باندی نظر کړه
ګوره زما خبر باریکه ده هنر کړه
دین دی ولاړ نشی ځان پوه پدې خطر کړه

برابر نه دی سوتی او ماشیندار
شه پوه په دې اسرار

نن ته وګوره دنیا ته څه احوال دی
ستا په سر کی لا هغه زوړ خوب او خیال دی
د ژوندون سبب دی نن علم او کمال دی
که کمال نه وی ژوندون دی ډېر محال دی

پندلا نه اخلې کوی ته ګړهار
له علمه کوی فرار

د دنیا طیارې ګوره او جازونه
هم تانکونه ماشیندار هم او بتلونه
ډوب ما کوئی لابلا دی لوی توپونه
چی ئې مخه سی اوار کړی دوی لوی غرونه

که دی پښې وی غزولی خورې تاغار
ناموس در څخه ولاړ

په دنیا کی اوس ژوندون په ډېر قوت دی — چی قوت پیدا کوی کمال ثروت دی
ددې دواړو اساس تینګ پر معرفت دی — معرفت چی چاته نه وی جهالت دی

وعرفان ته مکتب کور دی او دیار
خپل ځان کړه ته هوښیار

اوس به بله قصه ووایم وتاته — په دنیا کی ستا ژوندون تر هرچا پاته
که ته ښه وائی که بد وائی وماته — ته خو، اړ دخپل کفن ئې وبل چاته

کله موړ ئې کله وږی او نهار
ستا خورك دی سپور جوار

بله داچی تا سنتلی خپل وطن دی — هم دپلار نیکه در پاته سور کفن دی
که څه غم دی دوطن ستا په ګردن دی — که زهیر دی پر وطن باندی ستا تن دی

مګر مېز چو کی دچاده ستا دی سپار
لاخوری پر سر بېزار

دا ذلت او بې بختی چی در پېښېږی — ستا په ګټه باندی بل دی چی څور پیږی
حق دی اخلی هم پرتا باندی سپریږی — بې علمی ده چی دی ځان ته بلا کیږی

که دی علم وای خو ته به وای آبدار
په ټولو کی نامدار

خانه! ماته قافیه سوه ډېره تنګه — اوس راځه چی دواړه لاس واخلو له جنګه
زه پښتون یم داویل می دی له ننګه — زما مطلب چی ته پیدا کړې ځانته پنګه

زمریالی یم تا ته غواړم په بار بار
عزت او اقتدار

ډېر ویل دقرآن ښه دی اوس به بس کړم — که دا تاسی ټول پښتون نو به هوس کړم
هم به هلته بیا نو نه خپل په وس کړم — چی د علم د کاروان پښتو جرس کړم

داخو زما دزړه ارمان دی بېشماره
کې و کی مددګار

ښاغلی عبدالله [لالی]
د ادبیاتو لیسانسه

ترجمه اولیکنه

وروستی تحول

دمخه تردې چې ماشین منځ ته راشي او دانسانانو په ژوند کې وروستی تحول پېښ کړی، دارغونی نړۍ تول مدنیتونه اساساً یوله بله سره ورته او مشابه وو. په هر ځای کې دژوند عمومي رنګ او شکل زراعتي او تول صنایع لاسي وه. دباد او اوبو قوې په یکنواخته کارونو کې لکه دحبوباتو اوړه کول او د اوبو پورته کول دآبیاري لپاره په کار اچول شوي وي، او هیڅ کار د ماشین په واسطه نه اجرا کېدی.

دنړۍ اقتصاد دانسانانو دغړو په قوو او یو لږ څه د حیواناتو په مرستې (غویانو یوې کوله او خرو بارونه وړل) پوري مربوط وو. همدارنګه دنړۍ صنعت هم د انسانانو دلاسونو په مهارت پوري چې ولرګیو او ختو ته به ئې مطلوب شکل ورکاوه تړلی ؤ.

هر تمدن دخپلې دلچسپي بر لار اولیکه پرمخ ولاړ او ترقي ئې وکړه او د صنایعو په ځینو څانګو کې ئې فوق العاده برتري او مخکښي والی پیدا کړ دمثال په توګه چینایانو دچینې لوښو په جوړولو کې پرمختګ وکړ چې حتی موږ خپل بلوري لوښي (چینی) بولو چې وچین ته منسوب دي. اسلامي وګړو بیا په اودلو کې خپل مهارت او مخکښیتوب ښکاره کړ. که څه هم هر تمدن ځانته جلا خصوصیات درلودل او په لومړي نظر له نورو مدنیتونو څخه کورټ بېل ایسېدي لېکن د شیانو دجوړولو بوهه لکه کلالي او اودل، ډېره لرغوني او مشترکه وه او تولو وګړو په مختلفو درجو مهارت سره استعمالوله. تکنیکونه په تصادفي ډول پرمخ ولاړ نه دا چې دعلمي تجربو او ازموینو په واسطه، د کارونو داجرا کولو لاري او طریقې اکثره د کوډو او جادوګرۍ بڼه درلوده او په سحرآمېزه رسوماتو سره اجرا کېدل. دهغو اسبابونو او لوازمو سره چې د یوې بریالي تجربې او کار لپاره ضروري ؤ ځینې نور اسبابونه او شیان هم اضافه کېدل چې د اصلي کار او تجربې سره به ئې هیڅ اړه نه درلوده. دمثال په توګه دپښ شاګرد ته ښوول شوي ؤ چې کوره باید څنګه جوړه کړي معدني مواد په څه ډول یکښي واوډي او اور ورته کړي، او همدارنګه ده ته ښوول شوي ؤ چې د کار د پیل په وخت کې باید مخصوصي جامې واغوندي او خیرات وکړي که نه کار به ئې په ښه ډول سرته ونه رسیږي او بریالي نتیجه به ورنکړي. داجتماعي او اقتصادي تشکیلاتو

مهم ډول په لرغونیو وختو کی
د شصت میتودؤ . د ټولی لرغونی
نړۍ د مدنیتونو په ابتدا کی
کښتګرو مځکی کرلې او

ښځو ئې د کور کارونه او د
کوچنیانو روزنه په غاړه اخیستی
وه، او دوزګاری په وخت کی
ئې یوڅه ټوکران او دل . په

ښار او کلی دواړو کی د کار
وخت د لمر څرك څخه شروع
کېدی او د لمر لوېدو سره
ختمېدی . هغه ډېر لږ اضافه

محصولات چی د کښتګرو او
کاسبانو له ډېر زیار او زحمت
څخه حاصلېدل . ملایان،
نجیبان او حاکمه هیئت چی د

ښوونی، مذهبی او اداری چاری
ئې په غاړه اخیستی وی حمایه
کول او ساتل . په اول کی
حاکمه هیئت د کښتګرو او

کاسبانو په سعادت او نېکمرغی
کی ډېره دلچسپی درلوده او

عوامو به دوی ته دلار ښوونکی
او ساتندوی په سترګو کتل .

لېکن ورو، ورو حاکمه هیئت
له خپلو مسئولیتونو څخه غاړه

وغړوله او پخپلو چرچو اخته
شول او له بلی خوا یوڅو وچ-
کالی او قحطۍ هم پیښی شوې
چی وګړی ئې پخپلو ځانو پوری

حیران کړل، نو هغه ؤ چی د دې
دواړو طبقو په منځ کی ورانی
او نارضائی پیدا شوی ځکه
چی لارښوونکو ئې دښه ژوند

وسایل لکه څنګه چی نن موږ
مجهز یو دوی ته نشوای برابر-
ولای . په هر صورت کښتګرو
به ډېری خواری ایستلې او هر

تمدن په زرګونو کلونو دوی
پخپلو کارونو کی ناچاره قانع
وساتل او نجیبانو او خانانو په
خپلو کښتګرو ته مېلمستیاوی

کولې او د دوی پر کښتونو به
ګرځېدل او په یو چم به ئې
خوشاله کول .
د دې لرغونی سیستم ړنګېده د

دوو اساسی اختراعو په منځ
ته راتلو سره شروع شو چی یو

ئې علمی میتود او بل ئې د
حرارت استعمال د قوې د منبع

په حیث ؤ . دا دواړی اختراعوی
په اروپا کی منځ ته راغلی ځکه

چی اروپا هغه زرخیزی وادی-
ګانی چی د لومړی لویو کلتو
رونو بنسټونه دی نه درلودی
ډېره لږ موده کېږی چی اروپا

هغه تمدن چی بنسټ ئې یونا-
نیانو ایښی ؤ پرمخ بوت او ترقی
ئې ورته وکړه .
یونانیان ډېر متجسس او

کنجکاو وګړی ؤ . دوی د
خپلی شاوخوا نړۍ د هر شی
په باره کی لیدنی، کتنی او
تحقیقات کړیدی، آثار ئې پر

لیکلی دی او له ځانه ئې پرې-
ایښی دی تقریباً دهری او سنۍ
علمی تیوری او نظریې ریښه د
یونانی فیلسوفانو په ښوونو

بحثونو او آثارو کی موندل
کېدای شی . د ریاضی هغه
سیستم چی یونانیانو پرمخ بوت
د علمی تحقیق او پوهی د

پېشرفت لیاره ډېر ګټور ؤ . په
هر صورت، یونانیان پر خپلو

کشفیاتو او منطقی نظریاتو
باندی ډېر معتمد او مغرور ؤ

بېله دې چی هغوی و ازموئی او
صحیح او غلط ئې ښکاره او

را برسېره کړې. حال داچې د
علمي میتود جوهر او اصل دادی
چې ساینسدان پر خپلو کتنو
اولید نو باندې اعتماد نه کوي.

دی یو هېږي چې ده ته بالکل
ممکنه ده چې ځـــان ناپوه
و بولي، په تېره بیا هغه وخت
چې یوه مخصوصه نتیجه دده له

نظر بې سره موافقت وکړي.
ساینسدان ته واقعاً داروش تر
تجربې تکنیک ډېر مهم دی.
یونانیان چې به کله یوې نتیجې

ته ورسېدل نو به ئې توقف وکړ
او بیا به ئې وکار ته ادامه نه
ورکوله لېکن ننني ساینسدان
یوه تجربه بیا بیا اجرا کوي او

د هغې نتیجې په ډېر احتیاط
سره ثبتوي چې بیا وکړای شي
د نورو ساینسدانانو د تجربو له
نتیجو سره ئې پرتله کړي.

دي یو هېږي چې ماشین حسب-
الخواهش د انسان د فکر تر

اغیزې لاندې نه راځي، نو ځکه
ډېر میخانیکي کارونه اجرا

کوي چې وکړای شي له خپلو
کتنو څخه ښې نتیجې لاس ته

راولي.
تر ده وروسته دستي په دستي یو
بـــل ساینسدان دده تجربې
تکراروي او نوي ترتیبات نیسي

ښائي داسې نتیجه په لاس راوړي
چې له پخواني نتیجې څخه نو پېر
ولري، په هر صورت ساینسدان
خپل کار ته ادامه ورکوي او

هیڅ کله ئې نه بس کوي بلکه
زیار کاږي چې د آینده کار د
اغاز لپاره زمینه برابره کړي.
د لرغوني یونانیانو د کارونو

او او سني ساینس تر منځ تقریباً
د ۲۰۰۰ کلونو په اندازه یوه
وقفه وه چې په دغه موده کې د
اروپائیانو دماغ د علمي میتود

د ښه راغلې لپاره یوه زوره وره
آمادګي نیوله. د لرغـــوني
یونانیانو دوختو مستقیم مشا-
هدات او کلاسیکي تحقیقات

ورو، ورو سقوط وکړ او پـه
منځنیو پېړیو کې هیڅ تحقیقات

او فیصلې په وجود راغلې وګړي
او ددوی فکرونه ټول د کلیسا

د نفوذ او اغیزې لاندې ؤ بېله
مذهب څخه په نورو چارو کې

خبري اتري منع وې. در نسانس
او ریفارمیشن په منځ ته راتلو
سره د کلیسا قدرت وېجاړ شو
او مقتدري ذکاوي بیا په علمي

تحقیق او تجربو لاس پوري کړ
چې او سني ساینس پرې ولاړ
دی.
ننني ساینس غالباً په لیوناردو-
ونسي سره چې له ۱۴۵۲ څخه
تر ۱۵۱۹ پوري ئې ژوند کاوه
شروع شوي دي. د بخار لومړي
ماشین، چې ماشیني دوره شروع

کوي تر ۱۷۶۵ پوري جوړ شوي
نه ؤ. د ۳۰۰ کلونو په موده
کې یعني د لیوناردوونسي د
تجربو او بیا د بخار د ماشین تر

اختراع پوري ساینس ورو، ورو
پر مختګ وکړ او تر یوې اوږدې
مودې پوري ئې پرورځنې ژوند
لږه اغیزه درلوده.

کښتګرانو په هماغه پخواني
طریقه کښت کاوه او کاسبانو

په هماغه پخواني طریقه کسب
کاوه. عوامو چې به د ساینسدان

څخه کوم شي واورېدي هغه به
سحر او جادو ورته ایسېدي.

دغه وخت دارو پایانو د کشفیاتو
او سیاحت زمانه وه، کله چې
ددوی کښتۍ ونوو مځکو او
ملکونو ته ورغلی، ددوی

تکنالوجی تر ډیره حده دلرغونی
نړۍ دمدنیتونو د تکنالوجی
په شان وه. دوی اوږده بحری
سفرونه په غاړه واخیستل چې

ونوی نړۍ ته ورسیږی، هغه ؤ
چې په ډیر سختی سره د نوی
نړۍ وسواحلو ته ورسېدل او
دخپلو زغرو، تورو او توپکونو

په ذریعه دنوی نړۍ پر خلکو
باندی غالب شول او د هغو پر
ثروتونو، سروزرو او جواهرو
باندی ئې لاس برشو. ډیر مهم

بدلون چې په دغه وخت کی
په اروپا کی پېښ شو تکنا-
لوجیکی نه بلکه اجتماعی ؤ.
دنوی تجارت او نوو بازارونو

په منځ ته راتلو او د سروزرو په
رانګ او جریان سره له امریکا

څخه و اروپا ته فیوډالی سیستم
خپل مرګ ولیدا و محوه شو.

خلکو له تجارت څخه ډیری
پیسې په لاس راوړی او وګړی

و ښارونو ته راو کوچېدل او
ښارونه له نفوس څخه ډک شول
او قدرت د سوداګرو اشرافو
په لاس کښېوت.

دلرغونی یونان اشرافو خپل
کشفیات دعمل او استفادې په
معرض کی نه ایښوول او خپل
کشفیات به ئې بېکاره پرې-

ایښی ؤ اما دغه نوی ارستو-
کراتان دې ته مایل ؤ چې علمی
کشفیات هر چیری چې د دوی
ګټی او محصولات زیاتوی په

کار واچوی، څو په پای کی په
اتلسمه پېړۍ کی دغه حالت
واوښت او ساینس د اسارت
ځنځیرونه وشلول او د خپل

آزاد تحقیق لاره ئې په مخه
کړه او نوی تحول ئې په وجود
راوړ.
دحرارت څخه دقوې دحاصلولو

د اختراع سره سم د بشر په
تاریخ کی دریم تحول منځ ته

راغیء. ددې اختراع لومړی
اغیزه د قوې ګټور کول ؤ، په

تېره بیا په هغه ځای کی چې
د سوځنګ مواد پیدا کېدل.

ماشینی آلاتو و ډیر مقدار فلزاتو
او د ډبرو سکرو ته ضرورت
درلود ځکه ئې نو پر فلزاتو
او د ډبرو پر سکرو باندی نوی

ارزش کښېښود. ماشین ډیر
انقلابی پر مختګونه په وجود
راوړل. نن موږ دخپل ژوند
ټول کارونه دماشین په واسطه

اجرا کوو، غواړو چې وبلی
سیارې ته کښته شو، له مغارونه
ولوړو بنګلو او آسمان خراشو ته
ځو، دحمورابی له قانون څخه

ونن ورځی قانون ته راځو، هغه
شمع او د سکرو اور چې د
حمورابی په کور کی بل ؤ
نن ئې ځای برقی بخاریو او

برقی څراغونو نیولی دی.
پخوانی خلکو د مکروبونو او
د ځینو امراضو نوم لا نه ؤ
اروېدلی او ګرده د ناوړو

مرضونو په سبب په ځلمیتوب
کی لا دجهانه سره وداع کوله

او د ننني ډاکترانو او دواؤ په
باره کی هیڅ معلومات نه درلود

دوی قیر شوی سړ کونه، پار کونه
ښکلی کورونه، پراخ ښارونه

او تنظیفاتی تشکیلات ته در او دل
دوی به د ځینو خلکو وخبرو ته
که صحیح وی او که غلطی
غوږ نیولی ؤ او سرونه به ئې

ورته ښورول پیله دې چی دهغوی
په خبرو کی فکر وکړی او د
هغوی صحیح او ناصحیح
معلومی کړی او اظهار نظر

وکړی .
د نیکه مرغه نن دهغو پخوانو
سوداګرانو، ښکاریانو، نجیبانو
او کارګرانو اجتماعی

تشکیلات ټول له منځه تللی
دی او روغ او بشپړ تشکیلات
ئې پر ځای منځ ته راغلی دی.
په دې نوو تحولاتو کی موږ

د پخوانیو مدنیتونو لار تعقیبوو
او د تکامل وخواته ځو . موږ
په ښو ماشینونو، ښو لوازمو
ښې روغتیا او ښو موفقیتونو

پسې هڅه کوو . زموږ د ژوند
سویه دومره لوړه تللې ده چی

پخوانیو خلکو په خوب کی هم
نه وه لیدلی . تکنالوجی له

پخوانه ډېر بدلون کړیدی .
د تکنالوجی د بدلون په واسطه

اجتماعی تحول منځ ته راځی
او اجتماعی تشکیلات او موسسات
نوی شکل غوره کوی. اجتماعی
علوم (اجتماعیات، اقتصاد

انتروپولوجی) هم ډېر انکشاف
کړی او د وهمی، تصوری او
خیالی نظریو له کړی څخه ئې
ځان خلاص کړی دی او د مثبتو

اصولو او قواعدو په اساس
حرکت کوی .
اجتماعیون یو هیڅ چی دهری
ټولنی مستقبل معین او تاکلی

نه دی. د تاریخ په هره برخه کی
یو شمېر مختلفی لاری شته چی
پر هغی باندی ټولنه تلای شی .
مدنیتونه متحول شیان دی چی

په دې تحول کی د تطابق
مختلف ډولونه دی . انسانان
تر ټولو ژوبو ډېر سخت سره او
تطابق کوونکی دی او کولای

شی چی په مختلفو اجتماعی
سیستمونو کی چی و دوی ته

خواړه، پوښاك او ځای برابر
کړی ژوند وکړی . لیکن

ځینی په ځینو سیستمونو کی
چی په هغو کی د فرد شخصیت

محترم وی، آزادی واری او
خپل استعدادونه و کمال ته
ورسوی، او په هغو سیستمو کی
لوړ زغ واری ډېر خوښ دی

اما ځینی ئې بیا په ځینو نورو
سیستمو کی خوښ نه دی .
په هر صورت د نوی کشف په
ظهور سره یعنی داچی د اتومی

انرژی څخه څرنګه کار واخیستل
شی د ډېر لوی تحول امکانات
په وجود راځی. په اوس وخت
کی دغه قوه سیاسی جنبه او د

خلکو اذهان ئې پریشانه کړی
دی او داسی فکر کوی چی
جنګ د انسان یو طبیعی عمل دی
لیکن څرنګه چی وینو دې قوی

خپل بد او وران خاصیت ته تغیر
ور کړیدی او نژدې ده چی د
بشر په سعادت او نیکمرغی کی
استعمال شی او بدی ډول به

څلورم تحول د بشر په تاریخ
کی پېښ کړی . نو بدې اساس

موږ هم باید خپله لرغونی رویه او
فکر واړو که غواړو چی ښه ژوند

وکړو او ژوند پر ځان تریخ
نه کړو .

ښاغلی غلام غوث «رشاد»

نومیالی پوهان

البرت اینشتین

و نړۍ ته ډېر انسانان راځی
اوځی چی وجود ئې دهیڅ اثر
منشا نه وی او له رانلو څخه ئې
څوك نه خبر یږی حتی لوی

فاتحان او تاج لرونکی هم چی
د خپل ژوند په وخت کی ئې
نړۍ ترنګین لاندی راوستلی
ده او نړۍ ئې له خپلی اوازې

د که کړېده، لائې هم اثر
محدود او ددوی د ژوند په وخت
پوری اړه لری، یا یو لږ وخت
دوام کوی او ډېر ژر یا یو څه

وخت وروسته ئې نوم یا ئې
کارونه دهیری په ګرداب کی
غوته کېږی. حال داچی د
افلاطون، ګالیله، نیوتن او

داسی نورو نومونو تل د خلکو
په زړو او دماغو کی وی او اثار

ئې د ژوند له صفحې څخه نه
زائل کیږی.

البرت اینشتین په ۱۸۷۹ع کال کی د المان د [اولم] په ښار کی په
یوه یهودی کورنۍ کی نړۍ ته راغلی او له وړو کتوب څخه ئې
په نافذو او جاذبو سترګو کی فوق العاده هوښ او ذکاوت
ښکاره کېدی.

دی به داسی پخپلو لوړو فکرو او لیری ؤ او ږدو اندېښنو کی ډوب
تللی ؤ چی کله کله به ښوونکی سرزنش کړ او کوته ذهنه به ئې

بلی خوده د نورو په خبرو او فکرو پسې سر نه ګرزاوه او کومه
لارچی ئې په مخه اخستې وه هغه ئې پسې تعقیبول. یوولس کلنی
سوی نه ؤ چی د پوهانو او فیلسوفانو اثار ئې په ډېر غور سره کتل
وعلومو ته دده توجه ددې باعث سول چی د پلار د مخالفت او مقاومت

سره مخامخ سی خو دده ټینګ عزم او اراده پر ټولو موانعو بریالی
سوه او هغه لارچی پوهنی وده ته پرانستلی وه پر رهی سو.
اجتماعی محیط او جاهلانه تعصبات هم دده مزاحم وه ځکه دی
یهودی و نړۍ ته راغلی ؤ او دی یهودی والی ډېر وخت وده ته سر

دردی پیدا کړې وه او کله چی دی د معلمی درجې ته ورسېدی
تولنی له دې څخه امتناع وکړه چی یو تن یهودی دوړو کو د روزنکی
په عنوان غوره کړی.
ځوان البرت تر ډېر هاند او کوښښ وروسته بریالی سو چی د سویس

د برن په ښار کی د امتیازاتو په اداره کی په کار پیل وکړی او
ډوډۍ و مومی.
ده ټول مشکلات نه لیدلی بلل او له هر فرصت څخه به ئې چی په لاس
به ئې راوړی د خپلو مطالعو د اداري د پاره کار آخستی.

په ۱۹۰۵ع کال کی دده [د نسبیت خاصه نظریه] خپره سوه او تر دې
وروسته دده نوم په علمی مجلسو کی په احترام سره یادېدی او د
پوهنځیو وړونه ئې پر مخ وپرانستل سول.

[نور په ۲۷ مخ کی]

دښاغلی «غیور» ژباړه

موریس میترلینگ

دغه نامتو فیلسوف په ۱۸۵۶ عیسوی کال کی زېږېدلی دی نوموړی فیلسوف ته د شلمی پېړۍ سقراط لقب ور کړه شوی

دی ځکه چی دده افکار او دماغ او طبیعی نبوغ د سقراط له افکارو سره نژدې دی . د نوموړی د ژوند ډېره برخه په

واشنگتن کی پای ته ورسېده او د ژوند په وروستیو مرحلو کی له مالیخولیا (لېونتوب) سره مخامخ شو . دی په اصل

او نژاد کی د بلژیك دی چی وروسته د امریکا خاوری ته

ستون شو . موریس میترلینگ وروسته له هغه چی په فرانسه

کی ئې خپل لومړنی او لوړ تحصیلات د حقوقو په څانگه

کی سرته ورسول د [وکالت دعاوی] په کسب اخته شو .

نوموړی په ډېره لنډه موده کی د بشری حقوقو د قوانیو په باب

کی پوره معلومات او تجربه پیدا کړه او خپل د کتنو او څېړنو نتیجه ئې په عملی توگه سره د عمل ډگر ته وړاندی

کړه . ده برسېره په فرانسوی ژبه په انگریزی، المانی یونانی، ایټالوی، لاتینی او یو شمېر نورو ژبو هم خبری اتری

کولای شوای .

میترلینگ په لومړنیو وختو کی د څو وړ کوټو ناولونو او رسالو په لیکلو پیل وکړ

مگر وروسته په چټکتیا سره د لویو فلسفی کتابونو په لیکلو

باندی شروع وکړه او د یوې لنډی مودې څخه وروسته د

[عقل او سرنوشت] د کتاب په لیکلو باندی چی د منطق

او فلسفی له نقطهٔ نظره ډېر اهمیت لری پیل وکړ، دده

بل کتاب [بلوبره] یا [آبی-پرنده] نومېدی چی په ټوله

دنیا په تېره بیا په اروپا کی دده نوم او آوازه ئې پورته

کړه .

موریس میترلینگ په ۱۸۹۵

کال کی د فرانسې د ښوونی او روزنی د اکادمی په

غړیتوب ومنل شو او د نوموړی اکادمی د رئیس له خوا په

څو، څو ځله د تحسین او ستاینی وړ وگرځېد . برسېره پر هغه

د انگلستان د پاچا پنځم ژرژ د ایټالیې د پاچا دریم امانوئیل

او د بلژیك د پاچا لومړی البرت له خوا هم یو شمېر انعامونه

ور کړل شویدی .

میترلینگ د غرب په نړۍ

کی یو پیاوړی فیلسوف تېر شوی دی او د هر، نر او

ښځی لوی او واړه په نظر کی ځان ته احترام لری .

د «البرت اینشټین» پاته برخه

ده تل او پرله پسې د طبیعت په پټو د پوهیدلو د پاره مطالعه کول. دده [د نسبیت عامه نظریه] په ۱۹۱۶ کال کی خپره سوه او دده نوم ئې په نړۍ کی خپور کړ. البرت روښانه لمر د علم او پوهې پر هسك وځلېدی.

په ۱۹۳۳ کال کی البرت اینشټین مجبور سو چی د المان خاوره پرېږدی او هالینډ ته پناه یوسی ځکه د هغه وخت د المان ځان غوښتونکو او ظالمانو واکدارانو د یهودیانو دسته جمعی کشتارونه شروع کړې وه.

ده په هالینډ کی هم هغه ارامی چی غوښتل ئې ونه موندل او دهند او چین لار ئې په مخ کی ونیول. له هغه ځای څخه فلسطین او اسپانیا ته ولاړ څو ئې د امریکا متحدو ایالتو ته سفر وکړ. هوری دده ډېر احترام وسو او دده د کارو وسیلې ئې له هری خوا څخه ورته برابری کړی او د [برینستن] په پوهنتون کی په کار بوخت سو.

البرت اینشټین د اکسفورډ کمبریج، کلاسکو، زوریخ ماډرېډ، پاریس، بوآینس آبرس، روستوك، بروکسل ژنیو، منچستر، برینسټن، هاروارډ او لندن د پوهنتونو افتخاری د کتوری درجې لاس وروړی دی. د زوریخ، پراګ او کلرژو فرانس په پوهنتونو کی ئې استادی کړی د لندن کمبریج، اکسفورډ او د امریکا په ډېرو پوهنتونو کی ئې افاضه کړی په ۱۹۳۳ کال کی ئې د پروفیسر المریتس استادی پر غاړه درلوده او د ولهلم د قصر د فزیك د موسسې ریاست او د پاریس، امستردام، کوپن هاګ د علومو په اکاډمیو کی ئې غړیتوب درلود.

اینشټین یو نابغه پوه او یو صاحب نظر فیلسوف ؤ او علمی او فلسفې جنبې ئې پخپلو تعلیماتو کی داسی سره ګډی کړیدی چی یو له بله ئې بېلول ډېر سخت دی.

ده موږ د یوې نوی نړۍ په مخ کی درولی و چی بنسټ ئې د ریاضی پر فورمولو ولاړ دی داسی نړۍ چی درك او په پوهېدل ئې بېله هغو کسانو څخه چی ډېره علمی مایه لری بل چاته میسر نه دی.

دا لوی پوه په اجتماعی ژوند کی او له اخلاقی حیثه څخه هم ددې وړ دی چی سرمشق او نمونه وګرځول سی.

له ده څخه ډېر آثار پاته دی او ډېر کتابونه ئې لیکلی دی چی د بلی پټی نړۍ ورونه ئې زموږ پر مخ پرانستلی دی او دده د کارو نتیجې یو ځلانده مثال دی چی د نورو پوهانو او عالمانو د پاره ئې بل کړیدی

[په ۲۸ مخ کی]

لیکونکی: عبدالباری «آشنا»

نثر

که څه هم د نثر لغوي معنی پاشل دی مګر په اصطلاح کی هغه کلام ته وائی چی وزن او قافیه و نه لری یا په بل عبارت د نظم مقابل وی.

د نثر قسمونه: پخوانو پوهانو نثرونه په عمومی ډول درې ډوله وېشلی دی.

اول: هغه نثرونه دی چی په خبرو کی استعمالېږی او خلک ئې د یو او بل د پوهولو را پوهولو دپاره وائی چی دې ډول ته محادثوی نثر ویل کېږی.

دوهم: هغه نثرونه دی چی عبارتونه ئې فصیح او او اغیزه ناکه وی او خطیبان ئې د ځینو مهمو مقاصدو دپاره ویوې ټولنی او جمعیت ته اوروی چی دې ډول ته خطابی نثر ویل کېږی.

دریم: هغه نثرونه دی چی د مختلفو مقاصدو د ښکاره کولو دپاره لیکل کېږی او دې ډول ته تحریری یا لیکنی نثر وائی.

دا ډول نثرونه هم هر یو دوه ډوله راځی [مسجع او مرسل]:-

مسجع: وهغه نثر ته ویل کېږی چی ویونکی یا لیکونکی ئې د جملو اواخر په یوه قافیه سره ختم کړی یعنی چی یوه جمله ئې د بلی جملې سره په قافیه کی برابره او مسجع وی. دا ډول نثرونه پخوا په عربی، فارسی او پښتو کی ډېر وه چی نیم منظوم نثرونه بلل کېږی.

مرسل: وهغه نثر ته وائی چی د قافیې التزام یکښی نه وی شوی لکه دا او سنی نثرونه چی ټوله لیکنی، خطابې او خبری په دغه ډول نثر سره کېږی. دا هغه وېش ؤ چی پخوانو پوهانو د نثر د تشخیص دپاره کړی ؤ. مګر نورو پوهانو نثر د الفاظو او عباراتو له مخه سره وېشلی دی او دا ډول وېش په نثر کی دا د بیاتو له پلوه صحیح وېش معلومېږی، هغه دا دی چی: نثر پر دوه ډوله دی یو ساده بل فنی، یا یو طبعی او بل کسبی.

۱- ساده نثر: عبارت له هغه ساده او اسانه عباراتو څخه دی چی د عمومی خلکو

د ۲۷ مخ پاته

او کوم شی چی انسانانو ناممکن بللې دی ممکن کړیدی.

هر څونه چی دده د علمی مقام په باره کی خبری و کړو بیا هم نسو کولای چی دده د علمی او اجتماعی لوی والی څخه یوه زره بر کاغذ بیان کړای سو.

خوافسوس چی ډېر ژر مرګ دا ځلېدونکی مرغلره او لوی نابغه یو وړی او د بشریت نړۍ ئې د علم او اجتماع له یوه لوی سړی څخه محرومه کړه ده تر ۷۶ کالو ژوند وروسته د ۱۹۵۵ کال د مارچ په میاشت کی سترګی له نړۍ څخه پټی کړې.

په ژبه د یوه عادي او معمولي مطلب د پاره ولیکل سي او د ډېرو مرادفو الفاظو، تشبیهاتو، استعارو کنایو او... څخه پاک وي. چې دا ډول نثر د معمولي خبرو سره څه تو پیر نه لري او عموماً هغه وخت لیکل کېږي چې مطلب معمولي شي وي یا مخاطب عام وي.

۲- فني نثر: هغه نثر دی چې لیکونکي په اراده او وقت سره د هغه په عبارت، د الفاظو په اوډولو او د جملو په ترکیب کې کوښښ وکي چې په ډېر ښه او مؤثر ډول خپل مطالب د مخاطب په ذهن کې کښېنوي.

دا ډول نثرونه هغه وخت لیکل کېږي چې لیکونکي د کلام د ښایست یا د خپل لساني قدرت یا د مخاطب دا حساسانو د تحریک قصد ولري یا دا چې د موضوع اقتضاوي او ساده عبارت او معمولي الفاظ د هغه مطلب د ادا تر عهده وتلای نه سي.

لنډې دا چې د یوې ژبې نثرونه په هره موضوع کې چې وي که علمي وي که تاریخي یا قصصي... ټول د هغې ژبې ادبیات بلل کېږي او د هغو څخه د ژبې د ویونکو علمي، ادبي فلسفي او اخلاقي افکار ښکاره کېږي. دغه ډول د یوې ژبې متلونه او ږده یا لنډ نکلونه او... هم د ادبیاتو په چوکاټ کې راځي او ښه ادبي قیمت لري.

د نثر نموني:—

۱- محمد هوتک د پټې خزانې مؤلف وائي:

زما پلار هسې نقل وکا چې په کندهار کې د رافضي ګرګین خان جور او ستم، تر حد تېري وکا او خلک د خدای «ج» هسې ځنې په عذاب سول چې په مرګ خوښ سول، نو دوی په کوکران کې مغفور رحماني، برکزیده صمداني حاجي میر-خان هوتک ښالم خپل ته ولاړل او له هغه څخه ئې چاره د کار طلب کړه. او ټولو وویل: هر ډول چې دی وائي: هغسې کړیء هغه مغفور یوه ورځ تر ماښامه له نورو پښتنو خانانو او مشرانو سره مصلحت وکا. او هسې ئې ترون وکا، چې ظالمان مړه کړیء او ځانونه له جور ؤ ظلمة وژغوریء، په پای کې حاجي میر خان علیه الرحمه وویل: راسیء چې عبدالرحمن بابا قدس سره هم وپوښتو، چې د ده دیوان ئې خلاص کا، هسې شعرونه ؤ، بیت:-

زه مکتوب غوندي په پټه خوله ګویایم
خاموشي ځما تېري کا تر غوغا ځما

کښت د عشق په توده زمکه امان چیري
سمندر بویه چې زیست کا په صحرا ځما

چې دغه بیتونه ئې ولوستل هغه مغفور حاجي ولس ته وویل: چې د ظالمانو کار تمام دی. اما اوس دستي خاموشي بهتره ده. ټولو په پټه خوله دا کوښښ کړو چې ظالمان ورک کړه سي. چې مناسب وخت راسي نو به زه پرتاسي ږغ وکړم هغه وخت باید ټول تیار یو او ظالمان له وطنه وباسو. [پټه خزانه] بله نمونه چې د کابل مجلې څخه ئې تاکو.

ادب واسطه ده که غایه؟

ما د مخه هم لیکلي ؤ چې ادب د علم په مقابل کې آله او واسطه ده نه غایه! یعنې د علم له پاره موږ ادب

ته اړ یو او بالذات بخپله د یوه
ملت د لوړتیا د پاره کافی نه دی.
زه بخپله د شخصی عقیدې په اتکاء
تر ډېره ځایه د دې خبرې مل یم.

او ښائی چی ځینی نور خلک هم
ملګری ولرم خو دا هم وایم:
چی ځینی خلک به مخالف هم
وی او نه به غواړی چی ادب تش

د آلې او واسطې به توګه وپېژنی
به اجتماعی ژوندانه کی ډېر
شیان شته، چی د ثقافت په تشکیل
کی برخه لری، خو په لومړۍ

کتنه دومره مهم او د غور وړ
نه ښکاریږی اما کله چی یو
ملت د لوړتیا په یون او د تکامل
په سیر کی هغه پوړو ته ورسیږی

چی باید هغه شی ولری، نو هلته
ټولو ته د کوم عنصر اهمیت
څرګندیږی او لزوم ئې نظر ته
ورځی، او د ټولو مخه هغې

خوا ته کیږی.
ښائی چی ادب هم د غسی د ثقافت

د بشپړولو او تکمیل د پاره
خپله موقع او مساعد فرصت په

اجتماعی ژوندانه کی غواړی
او دا هم ښائی چی کوم وخت

ادب د یوه ملت د پاره دومری
اهمیت ومومی، له واسطې والی
څخه د غایې او اصلی مقصد مقام
ته هم ورسیږی، مګر دا په

ظروفو او محیطو او ولسو او
عصرو پوری اړه لری.
بله خبره دا هم ده چی ادب یو
جامع عنوان دی چی څانګی

او شعبې او ډېر اړخونه لری.
که له یوه اړخه څخه ورته
وکتل شی، بېله دې چی تشه
واسطه ئې وګڼو، بله معنی نه

لری، اما که ډېر دقیق شو او د
ادب په څانګه کی ځینی نهائی
او وروستنۍ خواوی وپلټو
دلته به نو دا هم راته وځلیږی

چی ادب یوازی او تشه واسطه
نه ده بلکه کله، کله غایه هم
کېدای شی.
موږ چی څه لیکو، یا په یو څه شی

کی غور کوو او څېړو ئې، دا
زموږ لیکنه، څېړنه، کتنه په

مخصوص ډول وی او غالباً مو
عینکه هم او سنۍ عینکه وی

حقایق من حیث حقیقت نه پلټو
بلکه د خپل احتیاج او اجتماعی

او ضاعو له امله ئې څېړو.
ډېر حقایق به په نړۍ وی، چی
هغه دلته او په دې چاپېر کی
نوی رنګ مومی او ځان محیطی

کوی نو ادب هم تر دغه قانون
لاندی دی، او موږ چی څه یکښی
وایو، یا یو څه پر لیکو د خپلو
محیطی عینکو څخه به ئې وینو.

ما وویل: چی ادب واسطه ده
نه غایه، دا دعوه می هم محیطی
وه، ممکنه ده چی حقیقت به
بل وی او زما تر لیدنی به قوی

او حقیقی لیدنی او کتنی نوری
هم وی خو زه له خپله چاپېره
درته ګډ یم هغه له خپله ځانه
درته وایم.

هو! هر چاپېر او هره جامعه
[ځان] لری یعنی لکه د یوه
سړی د ځان له پاره چی ډېر
لوازم شته د غسی هم د جامعې

د ځان له پاره د هر عصر لوازم
او اړتیاوی بیلی دی.

د یوه ابتدائی ملت له پاره ادب
ځکه واسطه ده چی هر لومړنی

ولس د اجتماعی تعامل او تفاهم
او هم د علم د زده کړی له پاره

یوې [ژبې] ته اړوي . ځکه
چې ژبه هر کله تر ادبي اصولو
لاندې موجودیږي او هم ئې
دغه ادب پالي، نو که موږ علم

او اجتماعي ارتقا هدف او مقصد
وبولو، ښائي چې پر ادب د
واسطې حکم وکړو .
مثلاً زه غواړم چې د طبیعیاتو

یو کتاب ولیکم دا کتاب تر
هغو نه سم لیکلای، څو زه داسې
ژبه ونه لرم چې ټول مطالب
ښه پکښې ځای سي او هم په داسې

ډول څرګند سي چې نور ئې
له ویلو استفاده ومومي او دهغه
علم په مقصد پوه سي .
دغه ژبه ماته ادب راښئي، او

ادب کولای سي چې په یوه ژبه
کې دومري استعداد مونده
کړي چې مثلاً ریاضي یا کیمیا
په ولیکم نو هر کله چې زه د

ژبې پالنه کوم پر ادبي قواعدو
به ئې برابره وم، د واضح او

فصیح بیان پانګه به پکښې
پیدا کوم دا ټوله د [پوهولو]

د باره دي نو ځکه په ابتدا کې
ادب نشه واسطه ګڼم .

اما ښائي چې زموږ د ملت په
عمر کې داسې ورځې هم راسي
چې ادب به نشه واسطه نه وي
او موږ به ئې پخپله هم غایه

ګڼو .
ښه ! اوس چې خبره داسې
شوه، نو:

ادب کله غایه کیږي ؟:

دا خبره ډیره نرۍ او هم مشکله
ده، ښائي چې ماته ئې څېړنه
او سپړنه هم ګرانه وي خو بیا هم
د قلم په ماته څو که چې د زړه

خبرې راتلای سي، زه به ئې
ولیکم: که په لنډ ډول ووایم
نو ښائي زما مقصد په دغو الفاظو
کې ځای سي [ادب چې د صنعتي

او میکانیکي دورې څخه تېر
سي] او پخپل جوهري کیف له
ډیرو اعراضو څخه مجرد سي
هلته نو غایه ورته ویلای شو .

دا خبره هم لنډه ده او څېړنې
ته اړه ده زه ناچاره یم چې لږ

څه شرحه ورکړم .
دمخه مې وویل: چې ادب د

واسطې والي په دورو کې د
حسن بیان او فصیحي وینا له

پاره استعمالیږي او ادبي علوم
ټول ښې او بلیغي وینا ته واسطه
وي .
ادب په لومړۍ او دوهمه دوره

کې د ایضاح، حسن تفاهم، بلیغ
کلام، تاثیر، تهییج، ښورونې
پاڅونې او ویښونې له پاره
[آله] وي .

که یو خطیب وغواړي چې
خلګ پخپله وینا ویښ کړي
او وئې پاڅوي نو دي په خطبه
کې ادبي سحر ګډه وي او د

خلګو پر روح اثر اچوي .
که یو لیکوال وغواړي چې په
خپل لیک سره جامعه د ارتقا
وخواته بوزي نو دي د خپل

عمیق او ژور اثرونه له ادبي
اصولو څخه اقتباسوي او د
ادب په بیرایه خپل کلام ته
اثر اغیزه او ښکلاور کوي .

په دغو ټولو دورو کې خپل
[آلیت] او واسطه والي ساتي

او کورټ [غایه] نه وي .
مګر ادب چې هر څو نې لوړیږي

له آلیت څخه تجرد مومي او له
عرضي کیف جوهري ډول ته

رسیږی .
دا لوړه درجه چی ادب غایه
والی ته رسوی او له واسطه والی
څخه ئې پاکوی هغه وخت دی

چی یو ادیب د تصنع او میکا-
نیکیت له نړۍ څخه ووزی او
بالذات [ادب] ته مخه کړی او
د سوچه تخیل او د فطرت

او د وجدان په جذبه او
ښوونه یو څه میدان ته راوباسی
د مثال په ډول وایم چی په
پښتو ادب کی د خوشحال

حمید او نورو ټولو ادباؤ آثار
[آلی ادب] او واسطې دی .
دوی د ادبی میکانیزم او
صنایعو څخه کار اخلی او

[ادب] ئې بالذات من حیث هو
هدف نه دی. اما د رحمان بابا
ادب بالذات غایه ده او مقصود ی
ادب دی ځکه چی دلته هیڅ

میکانیکی تصنع او عرضی
کیف نه وینو .

دغسی هم که له دغی خوا پاړسو
ادب ته وګورو د [حافظ شعر]

غایوی ګڼلای شو او د [خاقانی]
او [بیدل] اشعار تش میکانیکی

او وچ د ارګو څخه توږلی
اشکال دی.
په بل عبارت باید ووایم چی
[غایوی ادب] تل له وجدانه

او زړه څخه الهام اخلی او د
روح له نړیو مراندو سره اړه
لری د زړه له چینې څخه لکه
رڼی او به داسی بهیږی .

او د فطرت رنګ او خوند ئې
تل ساتلی وی مجاری ئې هم
طبیعی او فطری وی له روحه
سره کلک علاقه لری د ادیب

زړه ئې په کلماتو کی نغښتی
وی .
اما [آلی ادب] له مادی حظوظو
څخه تراوش کوی د نړۍ

میکانیکی رنګونه پکښی
ښکاری یعنی دلته له سترګو
څخه کار اخیستل کیږی او
هلته د زړه له بصیرته .

دلته له غوږو او ظاهری حواسو
څخه کار اخلی هلته له باطنی

او وجدانی او فطری استعدادو
څخه .

دا په ماده او مادی مظاهرو
اړه لری هغه په روح او فطری

خصوصیاتو .
یو بل مثال به د اوسنی ادب
له پلوه هم درته ووایم: په
اوسنۍ ایشیا کی موږ دوه

تنه معروف ادبا پېژنو، چی
دواړه د هند دی، یو مرحوم
علامه اقبال او بل رابندرانات-
ټاګور دی که د دوی ادب ته

له دغی خوا ځیر شو، او فکر
پکښی ووهو نو ښائی چی پخپله
دا راته ښکاره سی چی د لومړی
دا آلی ادب او دوهم دا غایوی

دی .
د مقالې په پای کی باید دا
خبره هم پټه پاته نه سی، چی د
ادب لومړنی او وسطی او عالی

درجې چی ما دلته وویلې، دا
دغسی مرتب تعابیر نه دی، چی
باید ضرور هر ادیب دغه درې
مراتب پی کړی، بلکه دا چی

یو ادیب ته موږ د نهائی درجې
حق ور کړو، ښائی چی دې

فطرت په دغه درجه کی اچولی
وی او لومړی او وسطی درجې

ئې نه وی لیدلی .
دغسی هم د یوه ملت په عمر *

ښاغلی عبدالرحیم «ننګیالی»

له هرات څخه

څه ولیکم

وړی حیرت یم نه پوهېږم څه مضمون ولیکم
د بېکاری د ژوند عنوان نه به طاعون ولیکم

چی سرمایه کړی ذخیره به کار ئې نه اچوی
څه فرق کوی چی د هغه لقب قارون ولیکم

څرك چی دعلم به دېره کړی دافکارو ننویږ
سر می نرجارشه عطارد به ئې مادون ولیکم

سرتور چی کرزی چنګ کاکل ئې وی بهره دادب
داسی زلمی نه به خالی کوټ وپتلون ولیکم

کنترول چی اشی به ښکاره دول کوی تجارز
دا حقیقت به ذ بې سیم پسر تیلفون ولیکم

دمرکب جاهل خر نه کرزی به زور دحکمت
که به زر واره فلسفه د افلاطون ولیکم

نه کړی تاثیر پر سنګدل زړه دشیرینی لیلی
توله داستان که د فرهاد او د مجنون ولیکم

تعمیر د عمر د ظالم ورانوی نسل به ژړا
دیتیم ارښکونه سیلاب او که جیحون ولیکم

که یه دې پوهشم چی نسیم ئې غوږ نه وړی د دلبر
نو سوی چیغی به زه دېری د بېلتون ولیکم

قلم چی ونیسم به لاس کوټی می شی به کباب
له دغه پوهشه زیاتی څه حال دژوندون ولیکم

د یار وصال پسوه سی سی پسه مقطر د لبو
دعشق ناروغه نه به دا واکسیناسیون ولیکم

کل د غاټول ورڅخه جوړشی پرلمن د بیاض
هره قطه چی زه د زړه به شواخون ولیکم

به فیض دروح دهرانی پیره ننګیالیه غواړم
چی موفق شم پسر مطلب کلام موزون ولیکم

---

* کی ښ ئې چی پوهه ئې ادیب مکتب اومدرسه داسی څوك بوهوی او دخپل وجدان ارضمیر
امری پیداسی او پوبل ادیب دی ونه روزلای سی.
وروسته وزېږی، دغا پوی ادب علم او فلسفه او او ستل او ویل هم پهرنا دېری تیاری رنمی کړې.
پیدا کېدل او اسی ادیب زېږول د داسی ادیب دپاره ضرور نه دی دوی دحافظ به قول اوست نه وی
د فطرت کار دی. ښائی چی بخپل غایر نظر دفطرت کړی خو «بغمزه مسئله آموز صد
داسی ادیب دفطرت به غېږ کی دپراسرار کشف کړی، امادی مدرس شد» مصداق بی او ددوی
پالل کېږی او دفطرت له استعداد و به فیلسوف نه وی. ښائی چی تر الهام د فطرت له پلنی امنی
څخه برخی مرمی. ښائی چی دپرو دمدرسی راوتلو علمو ؤ ی څخه وی.

KANDAHAR
MONTHLY MAGAZINE
OFFICE:-
PRESS DEPARTMENT
KANDAHAR, AFGHANISTAN
EDITOR A.M 'KARZI'
(FEBRUARY) 1963
GOVERNMENTAL PRESS